انټرنېشنل جنرل آف

# پښتونخوا

جلد درېم، جولائی/دسمبر ۲۰۱۷ء




په پښتو او انګرېزۍ ژبه کښې د باچاخان چئير

عبدالولي خان پوهنتون

شپږمیاشتنے ګڼ اړخیز تحقیقي جرنل

ISSN: (Online)

ISSN: 2519-7096 (Print)

**انټرنېشنل جنرل آف**

# پښتونخوا

**په پښتو او انګرېزۍ ژبه کښې د باچاخان چئير**
**عبدالولي خان پوهنتون**

**شپږ مياشتنۍ ګڼ اړخيز تحقيقي جرنل**

**شماره نمبر**:3 **جولائي – دسمبر** 2017

**باچاخان چئير**

## عبدالولي خان پوهنتون

**خيبرپښتونخوا(پاکستان)**

**سرپرست اعلي**
پروفیسر ډاکټر خورشید خان
وائس چانسلر
عبدالولي خان یونیورسټي مردان

**مدیر**
ډاکټر محمد سهیل
سیکرټري باچاخان چیئر
عبدالولي خان یونیورسټي مردان

**معاون مدیران**
ډاکټر سید ظفر الله بخشالي
ډاکټر نصرالله خان

**نائب مدیر**
اثر جان

# مجلس انتظامي


سرپرست اعلي: پروفېسر ډاکټر خورشيد خان
وائس چانسلر
عبدالولي خان پوهنتون مردان

مدير: (1)ډاکټر محمد سهيل خان
سکرټري، باچا خان چيئر عبدالولي خان پوهنتون
مردان
msohail@awkum.edu.pk

نائب مدير: اثر جان
پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون

پبليکيشن آفېسر:

کمپوزنګ سيکشن: اثر جان (پښتو)
(انګلش)



بيغه: 300 روپے

پبلشر: باچا خان چيئرعبدالولي خان پوهنتون
يونيورسټي مردان

# مجلس ادارت


| | |
|---|---|
| ډاکټر جهانزيب خان خليل<br>ډين آف سوشل سائنس<br>عبدالولي خان يونيورسټي مردان<br>Jehanzeb.regi@gmail.com | ډاکټر حافظ محمد انعام الله<br>اېسوسيټ پروفېسر، آئي اي آر<br>يونيورسټي آف پېښور |
| ډاکټر سيد راشد علي<br>چيئرمېن، ډيپارټمنټ آف<br>سوشيالوجي<br>عبدالولي خان يونيورسټي مردان<br>Syed.rashid@gmail.com | پروفېسر ډاکټر رسول خان<br>انسټټيوټ آف کېميکل سائنس<br>يونيورسټي آف پېښور |
| ډاکټر عبدالشکور<br>ډيپارټمنټ آف انټرنېشنل ريلېشن<br>عبدالولي خان يونيورسټي مردان | ډاکټر ناصر<br>ډيپارټمنټ آف انفارمېشن<br>ټېکنالوجي<br>يونيورسټي آف انجينئرنګ اينډ<br>ټېکنالوجي پېښور |
| پروفېسر ډاکټر نصر الله خان وزير<br>ډائريکټر<br>پښتو اکيډمي پېښور پوهنتون | پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب<br>پښتو څانګه کوئټه بلوچستان<br>Nseemab902@gmail.com |
| ډاکټر بادشاه روم<br>(علي خېل درياب)<br>چيئرمين پښتو څانګه ملاکنډ<br>پوهنتون | ډاکټر محب وزير<br>ډائريکټر پختونخواسټډي سنټر<br>باچا خان يونيورسټي چارسده |

# مجلس ادارت قومي

| | |
|---|---|
| ډاکټر سید وقار علي شاه<br>ډین آف سوشل سائنس<br>قائداعظم یونیورسټي اسلام آباد | ډاکټر خادم حسین<br>ډائرېکټر<br>باچا خان ټرسټ اېجوکېشن<br>فاؤنډېشن پېښور |
| ډاکټر ناصر جمال خټک<br>وائس چانسلر<br>یونیورسټي آف هري پور | ډاکټر سلمي شاهین<br>سابقه ډائرېکټر، پښتو اکېډمي<br>پېښور یونیورسټي |
| ډاکټر فضل رحیم مروت<br>وائس چانسلر<br>باچا خان یونیورسټي چارسده | ډاکټر یاسین اقبال یوسفزے<br>چیئرمین، ډیپارټمنټ آف فیزکس<br>پېښور یونیورسټي<br>dryaseeniqbal@yahoo.co.uk |

# مجلس ادارت بین الاقوامي



| | |
|---|---|
| ډاکټر عبدالکریم خان<br>چیئرمېن ډیپارټمنټ آف آیشین سټډیز<br>یونیورسټي آف ماناوا،<br>هوائي، یونائټډ سټېټ<br>khana@hawail.edu | ډاکټر موکولیکه بېنرجي<br>اېسوسي اېټ پروفېسر<br>سکول آف اکنامکس، لندن<br>یونائټډ کنګډم<br>m.banerjee@lse.ac.uk |
| ډاکټر عبدالظاهر شکیب<br>سینئر ریسرچ آفېسر<br>علوم اکېډمي کابل، افغانستان<br>zahirshakeeb@gmail.com<br>zahirshakeeb@asa.gov.af | ډاکټر فدا محمد<br>ډیپارټمنټ آف سوشیالوجي<br>یونیورسټي آف نیویارک<br>fida.mohammad@oneonta.edu |
| ډاکټر خلیل الله ارمړ<br>اکېډمي آف سائنس<br>کابل افغانستان<br>Khalil.ormar@asa.gov.af | ډاکټر سید محي الدین هاشمي<br>سینئر ریسرچ آفېسر<br>ډیپارټمنټ آف پښتو، کابل<br>یونیورسټي افغانستان<br>m.hashimi@asa.gov.af |

# فهرست


| شماره | عنوانات | مصنف | صفحه |
|---|---|---|---|
| 1 | دَ رحمان بابا اؤ مير تقي مير پۀ صوفيانه شاعرۍ کښې يؤشانوالے | ډاکټر نصرالله خان ډاکټر سيد ظفرالله بخشالي | 1-19 |
| 2 | "تور مخونه" د ټولنې د پټو خاميانو هېنداري افسانې | رحمان ګل فراق افريدے | 20-32 |
| 3 | د رحمان بابا د حسب او نسب څېړنه | فېصل فاران | 33-51 |
| 4 | په حوالو او کتابيات کښې بنيادي فرق څۀ وي؟ | اياز الله ترکزے | 52-61 |
| 5 | وزن (وزم) او آهنګ | پروفېسر ډاکټر لعل پاچا ازمون | 62-83 |

# دَ رحمان بابا اؤ میر تقي میر پۀ صوفیانه شاعرۍ کښې یؤشانوالے

Dr. Nasrullah Khan* Dr. Syed Zafarullah Bakhshaly**

ABSTRACT:

This paper is about the comparative similarity of Sufism between Abdul Rehman alias Rehman Baba, a legendary Pashtu Sufi poet and Mir Taqi Mir, an Urdu poet of stalwart class. Although, Mir Taqi Mir is classical poet, but not a Sufi, still there seems some kind of simlirity between the two elite poets. Rehman Baba is a famous, pragmatic Sufi and preacher of patronizing designation. It is concluded in this paper that Mir Taqi Mir was influenced by the class and fame of the legendary Rehman Baba, which shows his universal fame.

رحمان بابا دَ پښتو ژبې اؤ ادب یوه روښانه نامه ده، چې دَ صوفي عبدالرحمان بابا یا ملا عبدالرحمان پۀ نامه یادېږي، ولې پۀ عام اولس کښې پۀ رحمان بابا مشهور اؤ مقبول دے- هغه یؤ صوفي شاعر دے، یؤ مصلح دے، دَ حقیقي عشق پۀ میؤمست دے- یؤ درویش، فقیر اؤ

*اسسټنټ پروفېسر پښتو څانگه عبدالولي خان پوهنتون مردان

**اسسټنټ پروفېسر پښتو څانگه عبدالولي خان پوهنتون مردان

قلندر دے، غرض دا چې هغه ټول اؤ صاف چې دَ يؤ باعمله صوفي دَ پاره پکار وي هغه ټول دَ رحمان بابا پۀ شخصيت کښې موجود دي-
دغه شان ميرتقي مير دَ اردو ژبې اؤ ادب دَ کلاسيکي دورې يؤ ځلنده ستورے دے- خو ميرد رحمان بابا پۀ شان يؤ باقاعده اؤ عملي صوفي نۀ دے، ولې بيا هم دَ تصوف دَ باريکو اؤ دقيقو مسئلو نه ښۀ خبردے- ځکه چې دَ هغه روزنه پۀ داسې غېږه کښې شوې وه، پۀ داسې کورنۍ کښې پېدا شوے ؤ، کوم چې دَ تصوف دَ باريکو اؤ دقيقو مسئلو نه پۀ ښۀ شان خبر وو- دَ مير پۀ روزنه کښې دَ هغه خپل پلار علي متقي اؤ ترۀ امان الله دَ قدر وړ کار کړے دے، خو دغه دواړه هستيانې دَ ميرتقي مير پۀ ماشومتوب دَ دې فاني دنيا نه لاړې اؤ دَ مير دَ تربيت دغه سلسله اؤ دغه اسره نيمګړې پاتې شوه، ولې بيا هم ميريؤ صوفي تصور کېږي-
رحمان بابا دَ ميرنه تقريباً دوه يا درې اؤياکاله مشر ؤ- يؤد پښتنو پۀ سيمه کښې اؤ بل دَ هندوستان پۀ سيمه کښې پېدا شوے ؤ- يؤ دَ پښتوژبې خوږ ژبے شاعر اؤ دَ ټولونه زيات مقبول شاعر ؤ، ولې بل دَ اردو ژبې شرين زبانه اؤ مشهور شاعر ؤ- خو کوم مقبوليت چې پۀ عوام الناس کښې رحمان بابا ته حاصل شوے دے هغه لا دَ مير نۀ دے نصيب شوے.خو بيا هم دَ دواړو شاعرانو پۀ فکرکښې ډېرزيات اشتراک دے، ځکه چې دواړه دَ مغلو پۀ حکومت کښې پېدا شوي اؤ لوئې شوي وو- دواړو دَ دغه وخت دَ حالاتو نه اثر اخستے دے چې دَ دواړو پۀ شاعرۍ کښې صفا ځلېږي-
دواړو دَ دغه وخت دَ حکمرانانو تربګنۍ، دَ تخت وتاج جګړې،قتلونه، ظلمونه، دَ غريبانو اؤ بې وسه اولس ژړاګانې اؤ فريادونه ليدلي اؤ

اؤرېدلي وو. نو دواړو ښۀ پۀ ډاګه بې وېرې بې ترهې دغه ټول حالات دَ قلم څوکې ته سپارلي دي- کۀ رحمان بابا دَ باګرام (پېښور) ذکر کوي نو مير دَ اکبر آباد ،دهلي اؤ لکهنؤ ذکرکوي ـ کۀ رحمان بابا دَ خپل وخت دَ حکمرانانو نه سرټکولے دے، نو ميرهم دغه حالات دَ شعرپه ژبه کښې بيان کړي دي، اؤ ښۀ پۀ نره ئې پۀ دغه حکمرانانو دَ طنزغشي دَ شعر پۀ خوږه ژبه ورولي دي- غرض دا چې هم دا وجه ده، چې دَ دواړو پۀ شاعرۍ کښې اشتراک دے، دَ دواړو فکر يؤ دے، دَ دواړو فکري توکي يؤ شا ن دي اؤ ولې به نۀ وي ځکه چې شاعران دَ معاشرې سترګې وي ـ هغه دَ حالاتو نه پۀ هيڅ حال کښې سترګې نۀ شي پټولے ـ دَ رحمان بابا اؤ ميرصوفيانه شاعري څه پۀ دا ډول يؤشانوالے لري ـ

۱) وحدت الوجود وشهود

۱) وحدت الوجود وشهود:

وحدت الوجود وشهود دَ تصوف دوه لوئې نظرئې دي ـ خو اول دا چې تصوف څۀ ته وائي؟ تصوف څنګه شروع شو؟ دَ صوفي ټکي څېړنه اؤ څوک صوفي تصورکېدے شي؟

دَ تصوف رنګ رنګ تعريفونه شوي دي اؤ هرچا دَ خپل فکر، علم،تجربې اؤ پوهې مطابق پۀ دې لړکښې وېناګانې کړي دي- خو دَ ټولونه مخکښې به دَ "تصوف" ټکي پۀ حقله دَ محققينو رائې وګورو چې هغوي دَ دې ټکي څۀ مطلب اؤ مفهوم بيانوي-

"دائره معارف اسلاميه" چې دَ پنجاب پوهنتون له خوا شائع شوے دے ـ پۀ هغې کښې دَ تصوف تعريف داسې شوے دے، چې دَ "تصوف" ماده دَ ص-و-ف نه ده اؤ معنٰی ئې ده چې خپل ځان دَ صوفيانه ژوند دَ پاره وقف کول دي.

ډاکټر ابوسعيد نورالدين دَ تصوف پۀ حقله ليکي چې:

""تصوف" اصل میں "سین" سے تھا اور اس کا مادہ "سوف" تھا جس کے معنی یونانی زبان میں حکمت کے ہیں، اس لیے لوگوں نے ان کو "سوفی" یعنی حکم کہنا شروع کیا. رفتہ رفتہ "صوفی" ہو گیا."1

سيدعلي هجويري دَ تصوف پۀ حقله ليکي چې

"صوفی کو صوفی اس بنا پر کہا گیا کہ یہ لوگ صوف کے کپڑے پہنتے تھے اور بعض کے خیال میں صوفی "صفا" سے مشتق ہے."2

امام ابوبکربن اسحاق بن يعقوب دَ تصوف پۀ حقله دَ "صفه" هاغه اصحابو ته اشاره کوي کومه چې پۀ مسجد نبوي کښې وه ـ ليکي چې:

"یہ صحابہ اپنی صفحات کی وجہ سے برگزیدہ ہیں اور مخلوق میں اللہ کی امانت ہیں اور یہ ان میں سے چیدہ "لوگ ہیں. یہ وہ لوگ ہیں جن کے متعلق اللہ نے اپنے نبی ﷺ کو حکم دیا اور جنہیں اپنے نبی ﷺ کے پاس چھپا کر رکھا. یہی لوگ اسی نبی ﷺ کی زندگی میں اسکے اہل صفحہ تھے ـ"3

داورخان داؤد ليکي چې

"خو پۀ حقيقت کښې دا ټولې معنې لغوي دي چې دَ تصوف دَ اصطلاحي اؤ اصلي معنو نه ډيرې لرې دي. البته دَ "صفا" لفظ پۀ دې ټولوکښې صحيح اؤ پۀ زړۀ پورې دے- چونکه دَ تصوف دَ خاوندانو خپل اخلاق، عادات اؤ اطوار، مهذب، شائسته اؤ پاکيزه وي اؤ دَ طبعي عيبونو نه خپل ځانونه پاک اؤ صفا ساتي، پۀ دې وجه صوفيان ګڼلے شي.ـ"4

غرض دا چې دَ تصوف ټکي رنګ رنګ تعریفونه شوي دي. بل سوال دا چې تصوف څۀ څیز یا څۀ ته وائي؟ پۀ دې حقله هم محققینو ډېر څۀ وئیلي دي.لکه چې ډاکټر میر ولي الدین دَ تصوف پۀ حقله لیکي چې:

”ردیم سے پوچھا گیا کہ تصوف کیا ہے؟ تو اپ نے فرمایا! نفس کا حق کے ساتھ حق تعالی کے ارادے پر چھوڑ دینا تصوف ہے۔“5

دَ تصوف پۀ حقله معروف کرخي لیکي چې

”حقائق کو گرفت میں لانا، دقائق پر گفتگو کرنا اور خلائق کے پاس جو کچھ ہے اس سے ناامید ہونا تصوف ہے۔“6

داورخان داؤد پۀ خپل کتاب "رحمان بابا ژوند ،تعلیمات اؤ شاعري" کښې دَ محققنو رائې راجمع کړي دي ۔ هغۀ لیکي چې "دَ تصوف اؤ صوفي پۀ تشریح اؤ توضیح کښې صوفیانو عالمانو اؤ بزرګانو ډېرڅۀ وئیلي اؤ لیکلي دي- حضرت نوري فرمائي "تصوف" دَ نفساني لذت مکمل طور پرېښودل دي- حضرت ابوعمر دمشقي دَ تصوف تشریح داسې کوي ۔ "تصوف کون اؤ مکان ته داسې کتل دي، چې انسان ته چار چاپېره سراسرتاوان ښکاره شي پۀ دې وجه دَ دې نه سترګې پټول تصوف دے ۔ مخکښې لیکي چې تصوف دَ نېک خوئې نوم دے، تصوف نۀ دَ رسم نوم دے اؤ نۀ دَ علم بلکې دَ دې نه مراد دَ اخلاقو تصحیح ده ۔ دَ دې نه علاوه پۀ قرآن پاک اؤ سنت نبوی ﷺ کښې هم دَ تصوف اؤ صوفي پۀ حقله واضحه اشارې موجودې دي ۔ الله تعالیٰ فرمائي " کوم خلق چې زما پۀ دین کښې کوشش اؤ زیارکوي، مونږ به ورته نېغه لاره ښایو- اؤ دَ محمد ﷺ ارشاد دے " اے الله! ما پۀ مسکینۍ کښې ژوندے وساتې- دَ مسکینۍ پۀ حالت کښې مې وفات کړې اؤ دَ محشر پۀ ورځ مې دَ مسکینانو پۀ ټولي کښې پاڅوې - دا خو دَ تصوف اؤ

صوفي ټکي پهٔ حقله تعريفونه اؤ تشريح شوه اوس به دا ښکاره کړے شي، چې وړومبے صوفي څوک ؤ؟ اؤ صوفی چاته وئيلے شي؟ پهٔ دې حقله هم ډېرو محققينو خپلې خپلې وېناګانې کړي دي-

ډاکټر صابر کلوروي پهٔ خپل کتاب "تاريخ تصوف" کښې ابوهاشم اولنے صوفي ګڼلے دے.-

دَ ډاکټر غني ايراني خيال دے چې دَ ټولونه اول "عبدک الصوفي" ته دَ صوفي لقب ورکړے شوے دے.-خو ډېرپوهان پهٔ دې اتفاق کوي چې ابو هاشم ته پهٔ اول ځل دَ صوفي ټکے استعمال شوے دے- خو وس داچې دغه عالمان، بزرګان اؤ محققين صوفي چاته وائي، پهٔ دې حقله امان الله خان ارمان سرحدي ليکي چې:

*"شیخ عبدالقادر جیلانی صوفي کو کدورت سے پاک مخلوق تصور کرتے ہیں۔"*7

داورخان داؤد دَ صوفي پهٔ حقله ليکي چې:

"لکه چې الله تعالیٰ جل جلاله فرمائيلي دي الله تعالیٰ مومنان اؤ صوفيان خپل دوست ګڼي" اؤ چاچې پهٔ صحيح معنیٰ کښې الله تعالیٰ خپل دوست اؤ مددګار وګڼلو اؤ دَ هغه طاعت اؤ بندګي ئې اختيار کړه، نو الله تعالیٰ هغه ته دَ ولايت منصب ور پهٔ غاړه کړي اؤ دَ خپل ملک اؤ سلطنت انتظام دَ هغه پهٔ ذمه کړي چې دَ الله تعالیٰ دَ مخلوق مسئلې حل کړي- دَ دې قسمه بنيادمو دعاګانې همېشه قبلېږي، شېطان ترې تېښته کوي- اقوال ئې دَ کاڼي کرښه ګڼلے شي،دَ نفس دَ غلامۍ نه خلاص وي- پهٔ قسماقسمه کرامتونو نمانځلے شوے وي---دَ

ذاتِ واحد نه سېوا ئې هيڅ سره کار نۀ وي اؤ نۀ دَ دې
ذات نه سېوا څاسره مينه لري۔"8

يعنې صوفي هغه وي چې دَ الله تعالىٰ حکمونه اؤ دَ نبي کريمﷺ پۀ طورطريقو ژوند تېروي- بل سوال دا چې تصوف څنګه يا دَ تصوف ابتداء دَ کوم وخت نه شوې ده؟ پۀ دې حقله هم محققين جداجدا رائې لري۔ دَ ځينو پوهانو رائې ده ، چې لکه څنګه دَ حضرت عيسىٰ حواريان دَ سپينو جامو پۀ اغوستلو حواريان ونومېدل،هم دغه شان صوفي هم دَ صوف له ټکي سره اړيکه لري چې دَ نېکانو کسانو روايتي جامه ده۔
فهم دل راهي ليکي چې

"دَ رسول اکرمﷺ پۀ زمانه کښې دا ټکے نۀ موندے کېږي نو دَ دې وجه دا ده چې دَ صحابي نه زيات بل درناوے ټکے نۀ ؤ-دا غلطه ده چې دَ بغداد خلقو دا ټکے اختيار کړے ؤ- دَ حضرت حسن بصري اؤ حضرت سفيان ثوري پۀ زمانه کښې هم دا لفظ رائج ؤ. اؤ :تاريخ مکه: کښې دَ محمد بن اسحاق اؤ نورو پۀ سند سره روايت شوے دے۔چې دَ اسلام نه اګاهودا لفظ رائج ؤ۔"9

غرض دا چې دَ تصوف، صوفي اؤ تصوف دَ وخت پۀ حقله پوهان پۀ يوه خولۀ نۀ دي۔ هريؤ خپله خپله وېنا کړې ده خو لنډه دا چې:

*"منزل ايک مگر راستے کئی ہو سکتے ہيں اس ليے قرب الٰہی حاصل کرنے کيلئے تصوف ميں سلسلوں کے سلسلے ملتے ہيں. ان سلسلوں کے ساتھ تھوڑے بہت فرق کے ساتھ مختلف نصاب ہوتے ہيں. نصاب کا مطلب ايک سالک کيلئے روحانی ارتقائی منازل اور ان کے حال کے مطابق مختلف افکارواشغال اور مراقبے ہوتے ہيں. ليکن معلوم سلسلوں اور راستوں کے علاوہ خدا تک پہنچنے کيلئے اور ہزار راستے بھی ہوتے ہيں. طريق الی اللہ تعالی*

*بعد انفاس الخلائق یعنی اللہ تعالیٰ تک رسائی حاصل کرنے کیلئے اتنے راستے ہیں جتنی خدا کی مخلوقات کی سانسیں ہیں۔"10*

دَ دې ټولو محققينو او صوفيانو دَ تعريفونو نه دا خبره يوه اجتماعي غونډې شکل ته راځي، چې تصوف دَ نفس تذکيه او دَ اخلاقو تصفيه ده۔ تصوف په پښتو او اردو شعرو ادب کښې هم خپلې ځېلې دومره خورې کړې دي، چې اوس دَ دواړو ادبونو يو صنف ښکاري- دَ تصوف دَ دې تعريف او تشريح نه پس دا ضروري ده، چې په دې حقله دَ رحمان بابا او مير کلام وځېړلے شي او دا څرګنده کړے شي، چې هغوي دَ تصوف او صوفي مختلف اوقات، حالات او مقامات ترکومه حده برڅېره کړي دي- او دواړو دَ تصوف او ولايت سره خپل تړون او ګډون په کوم ډول کړے دے- رحمان بابا يو صوفي شاعر دے او مير يو صوفي شاعر تصور کېږي او په خپلو خپلو شعرونو کښې دَ اسلامي تصوف دَ فلسفې دَ جدا جدا مکتبئه فکر تصور راوړي ولې مونږ دا نۀ شو وئيلے چې هغوي دَ تصوف دَ کومې نظرئې سره تعلق لري- کله په صوفي دَ وحدت حال طاري شي نو دَ دې مشاهدې نه پس دَ وحدت خيال په شعرکښې څرګند کړي او کله پرې دَ شهود غلبه راشي نو دَ شهود قائل شي- کۀ چرې په دې مقام دَ رحمان بابا او مير کلام ته وکتلے شي، نو هغوې کله وجودی ښکاري او کله شهودي. دَ رحمان بابا او مير دَ وجودي او شهودي څېړنې نه مخکښې به دَ دغه نظريو تعريف وکړے شي، چې محققين په دې حقله څۀ وائي؟

<u>وحدت الوجود:</u>

دَ وحدت الوجود په حقله مېکش اکبر آبادي ليکي چې:

*"ظاہر و باطن خدا کے سوا کوئی موجود نہیں. یہ دکھائی دینے والا عالم جو خدا کا غیر محسوس ہوتا ہے اور جیسے ما سوا کہتے ہیں، ما سوا نہیں ہے یہ خدا کا علاوہ اور غیر ہے بلکہ خدا کا مظہر ہے-11*

پروفېسر صفي حېدر دانش دَ وحدت الوجود پۀ حقله ليکي چې:

*"اللہ کے سوا کچھ۔اور نہیں کہ خدا ہی انسان کے اعضاء جوارح کا اصل ہے. اس لیے خدا اور انسان عنینیت ہے ۔"12*

ډاکټر تارا چند ليکي چې:

*"وہ انسان کو مثال خدا گردانتا ہے. اور خدا "روح انسان" انسان کی ہستی میں سما کر موجودات عالم کا مشاہدہ کرتا ہے جن صفات سے بھی انسان خدا کو متصف کرتا ہے. وہ خود ان صفات کا جوہر ہے. جب انسان خدا کا تصور کرتا ہے. تو گویا وہ اپنا تصور کرتا ہے۔"13*

دوست محمد خان کامل مومند دَ وحدت الوجود پۀ حقله ليکي چې:

"وجود يعنې حقيقي هستي يوه ده، خو يؤ ظاهر وجود دے اؤ يؤ باطن- باطن وجود يؤ نور دے، چې دَ ټول عالم دَ پاره پۀ منزله دَ ځان دے اؤ هم دَ دې باطن نور پرتو ظاهر وجود دے، چې دَ ممکناتو پۀ شکل کښې ليدۀ شي- هر اسم اؤ صفت اؤ فعل چې پۀ ظاهر عالم کښې دي، دَ دوي ټولو اصل هم هغه باطن وصف دے اؤ دَ دې کثرت حقيقت عين دَ سيند يا سمندر ذات دے۔ حاصل دا چې دَ کائنات واړه افراد دَ حق پلوشې (تجليات حق) دے۔"14

غرض دا چې دَ وحدت الوجود دَ نظرئې منونکي دَ يؤ وجود قائل دي اؤ هغه وجود دَ الله تعالیٰ ذات دے دَ کائناتو وجود ځان له بېل هيڅ وجود نۀ لري-

وحدت الشهود:

ډاکټر راج ولي شاه دَ مجدد الف ثاني وېنا نقل کوي چې:

"الله تعالیٰ پۀ خپل ذاتِ اقدس موجود دے اؤ دَ هغۀ هستي له خپلې خودۍ نۀ ده- حق تعالیٰ لکه څنګه چې ؤ- اوس هم هغه رنګه دے اؤ همېشه به هم داسې وي- دَ هغه پۀ درګاه کښې عدم سابق يعنې وړاندې عدم يا دَ عدم لاحق لاره نشته- ځکه چې وجوب وجود دَ هغه پۀ درګاه کښې يؤ کمينه غلام دے-"15

دوست محمد خان کامل دَ وحدت الشهود پۀ حقله ليکي چې:

"دَ کائناتو وجود اؤ بېلو بېلو آثارو اؤ صفاتو ظهور دَ واحد مطلق دَ ذات اؤ صفات ظل اؤ عکس (سېوري) دے، چې پۀ عدم (نيشت) کښې پرېوځي (منعکس کېږي) اؤ دا سېوري(ظل) عېن دَ سيوري څښتن (صاحب ظل) نۀ دے، بلکې محض يؤ مثال دے-"16

غرض داچې دَ وحدت الشهود منونکي وائي چې کائنات يا اشيا دَ حقيقي وجود يا الله تعالیٰ دَ ذات عکس، پرتو يا سيورے دے- دَ دواړو نظريو مقصد يؤ دے ولې فرق صرف دَ لفظونو دے۔دَ دواړو مقصد دَ الله تعالیٰ اؤ دَ رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم قربت حاصلول دي-

رحمان بابا پۀ خپله صوفي ؤ اؤ دَ هغه دَ صوفيانه افکارو دليل دَ هغه خپل ديوان دے، اؤ مېرهم صوفي تصور کېږي، چې دَ هغه پۀ کلام کښې

ئې دليل موندلے شي ـ پهٔ دواړو شاعرانو کله وجودي اؤ کله شهودي حال غالبه راشي- دَ اسلام ا صلي اؤ بنيادي تعليم توحيد دے- حضرت محمد ﷺ خلقو ته دَ ټولو نه وړومبے هم دَ دې "عقيده توحيد" دعوت ورکړے ؤ- وجودي نظريه دَ اسلام دَ توحيدي عقيدې سره يؤ شان والے لري ـ پهٔ دې وجه صوفيانو دا خپله کړه اؤ دا ئې دَ توحيدباطني اړخ وګڼلو اؤ دَ اسلامي تصوف لازمي جز ئې وټاکلو: رحمان بابا فرمائي:

ګـــــوره هســــــې کردګـــــار دے رب زمـــــا
چـــې صـــاحب دَ کـــل اختيـــار دے رب زمـــا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ۲

کـــهٔ ظـــاهر دے کـــهٔ بـــاطن دے کـــهٔ مـــابين دے
لـــــهٔ همــــــه ؤ خبــــــردار دے رب زمــــا
دَ عبدالرحمان ديوان مخ۲

ميروائي:

ظاہر کے باطن ، اول کہ آخر
اللہ اللہ اللہ اللہ
کليات ميرجلداول مخ۴۰۴

دَ رحمان بابا بل وجودي شعر دے چې:

هرچــــــې دي سِــــــوا لـــــــه خدايــــــه
واړه وګڼـــــــــــــه نــــــــــــابود
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۳۰

مير وائي:

ہے ماسوا کیا جو میر لکھیے
اگاہ سارے اس سے ہیں اگاہ
کلیات میر جلد اول مخ ۲۰۴

کوم صوفیان چې دَ وحدت الوجود قائله دي اؤ اشیاء عېن حق ګڼي، اؤ دَ "همه اوست" اعلان کوي۔ نو دَ دې نه مراد دا دے، چې اشیاء نشته اؤ حق تعالیٰ موجود دے- ځکه خو رحمان بابا دَ خپل محبوب پۀ مینه کښې دومره ډوب شوے چې بې له خپله محبوبه هیڅ نۀویني لکه چې وائي-

زۀ رحمـــان دَ یـــار پـــۀ غـــم کښـــې هســـې ډوب یـــم
چـــې هـــیڅ نـــۀ ویـــنم پـــۀ ســـترګو مګـــر دے
دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۲۳۲

میروائي:
محو کر آپ کویوں ہستی میں اس کی جیسے
بوند پانی کی نظر آتی نہیں پانی میں
کلیات میر جلد دوم مخ ۲۰۱

رحمان بابا دَ مطلق حسن پۀ لټون دے اؤ یؤ زبردست عشق لري۔ چې کله ئې دَ دغه عشق سوزوګداز پۀ وېنا مجبوره کړي، نوځه دارنګې وېنا کوي چې:

پورتـــه بـــدر راځرګنـــد شـــه ښـــکته نمـــر
ښـــکته پورتـــه واړه مـــخ دے دَ دلبـــر

دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۴۱

اؤ ميروائي چې:

انکھیں جوہوں تو عین ہے مقصود ہر جگہ
بالذات ہے جہاں میں وہ موجود ہر جگہ

کليات مير جلد سوم مخ ۱۸۶

رحمان بابا دَ الله تعالیٰ موجوديت ته اشاره کوي چې:

هسې نهٔ چې واحدي ئې ده لهٔ عجزه
پهٔ واحد وجود بسيار دے رب زما

دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۳

اؤ ميروائي چې:

بالذات ہے جہاں میں وہ موجود ہر جگہ
ہے دید چشم دل کے کھلے عین ذات کا

کليات مير جلد دوم مخ ۲

کهٔ يؤ طرفته دَ دواړو شاعرانو پهٔ کلام کښې دَ وجودي نظرئې ښکاره نښانې ښکاري نو بل طرفته دواړه دَ شهودي نظرئې قائله ښکاري لکه چې رحمان بابا وائي-

معرفت دَ خدائے ځرګند دے پهٔ هرځهٔ کښې
سترګې وخوره چې څوک هومره نظيرنهٔ کا

دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۱۲۷

ميروائي:

گل و ائینہ و خورشید و ماہ کیا
جدھر دیکھا تدھر تیرا ہی روتھا

کلیات میر جلد اول مخ۱۵۲

رحمان بابا دَ محبوب حسن پۀ پرده کښې ویني اؤ وائي چې:

رحمان حسن دَ یار وینم پۀ پرده کښې
نۀ پټیږي نور دَ شمعې پۀ فانوس

دَ عبدالرحمان دیوان مخ۵۵

میر وائي:

تھا مستعار حسن سے اس کے جو نور تھا
خورشید میں بھی اس ہی کا ذرہ ظہور تھا

کلیات میر جلد اول مخ۹۷

جلوہ ہے اسی کا سب گلشن میں زمانے کے
گل پھول کو ہے آن نے پردہ سا بنا رکھا

کلیات میر جلد اول مخ۲۰۶

عبادت بریلوي دَ میر پۀ حقله لیکي چې:

"جہاں تک تصوف کا تعلق ہے. میر اس کے اسرار و رموز کو پیش کرنے میں بہت زیادہ پیش پیش نہیں رہے ہیں. انھوں نے اس خیال کا اظہار تو جگہ جگہ کیا ہے کہ یہ سارا عالم اور یہ کل کائنات ذات باری کے مظہر کا حسن ہے. کائنات کے تمام مظاہر در حقیقت ایک پردہ ہیں جس کے پیچھے ایسا جلوہ ہے جو لا محدود ہے. زمانے کے گلشن میں اس کا جلوہ ہے اور اس جلوے نے گل پھول کو پردہ سا بنا رکھا ہے۔"17

څنګه چې دَ شهودي نظرئې منونکي وائي چې دا کائنات دَ حق ذات سېورے دے، پۀ دې حقله هم رحمان بابا وائي چې:

چې ئې ولیده دا ستا دَ جمال عکس پهٔ خپل ځان کښې
هـم پـهٔ دا دَ ائنـې پـهٔ څېـر حېـران دے زمـا روح
دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۱۳۱

میروائي چې:

یہ دوہی صورتیں ہیں یا منعکس ہے عالم
یا عالم ائینہ ہے اس یار خودنما کا
کلیات میر جلد سوم مخ ۲۴۴

بل شعر دے چې دَ وحدت نه دَ کثرت اظهار پکښې شوے دے، وائي چې:

آگے عالم عین تھا اس کا اب عین عالم ہے وہ
اس وحدت سے یہ کثرت ہے یا میرا سب گیاں گیا
کلیات میر جلد پنجم و ششم مخ ۱۷

اکثروشاعرانو کهٔ هغوي دَ اردو دي، کهٔ دَ فارسۍ یا کهٔ دَ پښتو دي، خو پخپلو ځینې شعرونو کښې ئې دَ تصوف دا مشهورې نظرئې، وحدت الوجود اؤ وحدت الشهود چېړلې دي- چې لږ ډېرشعرونه دَ هر شاعر پهٔ کلام کښې موندے کېږي. څوک پهٔ وحدت الوجود کښې فنا ښکاري، ولې څوک دَ وحدت الشهود پهٔ نظرئې کښې فناښکاري- خو رحمان بابا اؤ میر دَ دواړو نظرئیو مرستیال دي - کهٔ یؤ طرفته دواړه وجودي دي نو بل طرفته شهودي هم دي، لکه چې رحمان بابا وائي:

دا زمـــا دَ یـــار جلـــوه ده چـــې لیـــده شـــي
لکـــه نمـــر پـــهٔ صـــومعه و ســـومنات
دَ عبدالرحمان دیوان مخ ۲۵

اؤ میروائي:

اس کے فروغ حسن سے جھمکے ہے سب میں نور
شمع حرم ہو یا کہ دیا سومنات کا
کلیات میر جلد دوم مخ ۱

غرض دا چې رحمان بابا اؤ میر تقي میر دَ تصوف دَ دواړو نظرئيو مرستيال دي –دَ دواړو پۀ کلام کښې دَ دواړو نظرئيو شعرونه موجود دي اؤ دَ دواړوفکر هم يؤ دے- ځکه چې دواړه دَ تصوف دَ مسئلو نه خبر وو اؤ پۀ دغه کړکېچنه لاره ئې تګ کړے ؤ- دواړو شاعرانو دَ ګرانوالي، پيچيدګۍ، اؤ نازک خيالۍ نه ډډه کړې ده اؤ هم ئې دَ ګنو تشبيهاتو اؤ استعاراتو نه ډډه کړې ده، ځکه چې دا دَ هغوي دَ کلام خاصه نۀ ده ـ دَ هغوي کلام دَ سادګۍ، روانۍ اؤ صفائۍ يوه نمونه ده ـ خو چرته چې دَ تشبيهه اؤ استعارې ډېر ضرورت پېښ شوے دے هلته ئې ترې ښه کار اخستے دے- دواړه شاعران کۀ يؤ طرفته شهودي دي نو بل طرفته دَ منصورحلاج دَ نظرئې مرسته کوي، کوم ته چې دَ تصوف پۀ ژبه کښې "فنافی اللّٰہ" وئيلے کېږي لکه چې رحمان بابا وائي:

دَ منصــوروحال تــه ګــوره حـــال ئـــې څـــۀ شـــو
خــدائے دې فـــاش دَ هيچانـــۀ کانـــدي پـــټ راز
دَ عبدالرحمان ديوان مخ ۵۳

منصور کی حقیقت تم نے سنی ہی ہوتی
حق جو کہیے ہے اس کو یاں دار کھینچتے ہیں
کلیات میر جلد اول مخ ۳۴۷

لۀ دې بحث څخه دا نتيجه پۀ اسانه اخيستلے شو چې دَ رحمان بابا اؤ میر تقي میر دَ ژوند هدف يوؤ ؤ ـ هدف ته دَ رسېدو تال اؤ چال ئې يؤ ؤ- چې

منزل ئې يؤ ؤ۔ نو دَ سفر سامان اؤ توښه ئې يوه وه ۔ دواړه دَ يؤ کاروان سالاران وو اؤ هم يؤ جرس ئې ټنګولے دے۔ وينو چې دواړه۔

(۱) دَ حقيقي حسن لټون کوي۔

(۲) دَ جهان هر څيز اؤ يا دَ هر څيز ښکلا دَ هغه حقيقي حسن برخه ګڼي۔

(۳) هره خوا چې ګوري دَ حقيقي خالق نخښې ورته ښکاري۔

(۴) هر اړخ ورته دَ حق وجود اؤ شهود ننداره کېږي اؤ دَ حقيقي حسن پهٔ سپينو پلوشو کښې ځان رانغاړي۔

# حوالې


1. نورالدين ابوسعيد ، اسلامي تصوف اوراقبال،اقبال اکادمي ادبيات پاکستان لاهور، چاپ دوم مئ ۱۹۷۷ء مخ ۳-۴
2. هجويري علي، ، سيد ، کشف المهجوب، فېروز پرنټنګ ورکس لاهور۱۹۵۹ء ، مخ ۲۲
3. ابوبکر بن اسحاق بن يعقوب، امام، تعرف، المعارف لاهور، ۱۱۹۱هـ، مخ ۳۴
4. داورخان، رحمان بابا ژوند ، تعليمات اؤ شاعري، يونيورسټي بک ايجنسي، خېبربازار، پېښور، ۱۹۸۳ء، مخ ۱۴۸
5. ميرولي الدين، ډاکټر، قرآن و تصوف، ندوة المصنيفين دهلي، ۱۹۴۸ء، مخ ۱۱
6. فريدالدين، شېخ، تذکرة الاولياء، مطبوعه بمبئ ۱۳۲۵ء مخ ۱۷۴
7. امان الله خان، غنة الطّالبين (مترجم)، شېخ غلام علي اېنډسنز، ۱۹۷۰، مخ ۲۳۷
8. داؤد داورخان ، رحمان بابا ژوند ، تعليمات اؤ شاعري، مخ ۱۵۲
9. راهی فهم دل ، عارف رحمان ،رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۸۲، مخ ۵۳
10. مهجور پروېز، ډاکټر، رحمان بابا شخصيت اور فن، اکادمي ادبيات، اسلام اباد ، ۲۰۰۷ء، مخ ۲۵
11. اکبرآبادي مېکش، ، مسائل تصوف، ابوکاشف، لاهور، اسدنئر پرنټرز، س ن، مخ
12. صفي حيدر، پروفېسر، تصوف اور اردو شاعري ، سندھ، ساګراکېډمي، ۱۹۴۸ء، مخ ۵۹
13. تاراچند ، ډاکټر، تمدن هندپر اسلامي اثرات ، لاهور، ترقي ادب ۱۹۲۴ء مخ ۱۰۴
14. دوست محمدخان، رحمان بابا ، دانش خپروندويه، پېښور، ۲۰۰۲ء، مخ ۱۷۱
15. خليل محمدجاوېد (مدون)، قدردان دَ شاعرانو رحمان بابا ، ملت پرنټرز، لاهور، ۱۹۹۸ء مخ ۱۳۴
16. کامل دوست محمدخان ، رحمان بابا مخ ۱۷۱
17. عبادت بريلوي،ميرتقي مير، شعبه تاريخ ادبيات، اداره ادب وتنقيد ، لاهور، مخ ۱۲۲، ۱۲۷

# کتابیات


1. سیدرسول رسا ، ، دَ عبدالرحمان بابادیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خېبربازار ،س ن
2. کلیات میر،کلب علي خان فائق(مرتبه)دیوان دوم جلددوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جنوري ۱۹۹۱ء
3. کلیات میر،کلب علي خان فائق(مرتبه) جلدسوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جون ۱۹۹۲ء
4. کلیات میر،کلب علي خان فائق(مرتبه)دیوان پنجم و ششم جلدچهارم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جون ۲۰۰۲ ء
5. کلیات میر،کلب علي خان فائق(مرتبه) جلدپنجم ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،ستمبر۲۰۰۷ ء
6. میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر،ډاکټر نثار احمد فروقي،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۲ء
7. نورالدین ابوسعید ، اسلامي تصوف اوراقبال،اقبال اکادمي ادبیات پاکستان لاهور، چاپ دوم مئ ۱۹۷۷ء
8. هجویر ي علي، ، سید ، کشف المهجوب، فېروز پرنټنګ ورکس لاهور۱۹۵۹ء
9. ابوبکر بن اسحاق بن یعقوب، امام، تعرف، المعارف لاهور، ۱۱۹۱هـ
10. داورخان، رحمان بابا ژوند ، تعلیمات اؤ شاعري، یونیورسټي بک ایجنسي، خېبربازار، پېښور، ۱۹۸۳ء
11. میرولي الدین، ډاکټر، قرآن و تصوف، ندوة المصنیفین دهلي، ۱۹۴۸ء
12. فریدالدین، شېخ، تذکرة الاولیاء، مطبوعه بمبی ۱۳۲۵ء
13. امان الله خان، غنة الطالبین (مترجم)، شېخ غلام علي اېنډسنز، ۱۹۷۰
14. راهي فهم دل ، عارف رحمان ،رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۸۲
15. مهجور پروېز، ډاکټر، رحمان بابا شخصیت اور فن، اکادمي ادبیات، اسلام اباد، ۲۰۰۷ء
16. اکبرآبادي مېکش، ، مسائل تصوف، ابوکاشف، لاهور، اسدنئر پرنټرز، س ن
17. صفي حیدر، پروفېسر، تصوف اور اردو شاعري ، سندهـ، ساګراکېډمي، ۱۹۴۸ء
18. تاراچند، ډاکټر، تمدن هندپر اسلامي اثرات ، لاهور، ترقي ادب ۱۹۷۴ء
19. دوست محمدخان، رحمان بابا ، دانش خپروندویه، پېښور، ۲۰۰۲ء
20. خلیل محمدجاوېد (مدون)، قدردان دَ شاعرانو رحمان بابا ، ملت پرنټرز، لاهور، ۱۹۹۸ء
21. عبادت بریلوي،میرتقي میر، شعبه تاریخ ادبیات، اداره ادب وتنقید، لاهور

# "تور مخونه"

# د ټولنې د پټو خامیانو هینداري افسانې

Rahman Gul Firaq Afridi*

**Abstract:**

A short story is a form of fictional literature. Fiction literature includes Novel and short stories. Every short story has a message to teach the society to avoid evil nature. A short story is a depiction of practices prevailed in the society. In Pashto society there are many evil faces who play many roles in many forms. Some are good characters whereas many some play negative roles. Negative roles have been referred as Tor Makhuna (Black faces) by the writer in the book under commentary.

The book Tor Makhuna (Black faces) are the portrays of the characters playing in the society. They have badly disturbed the society. In this research paper a short glimpse of every short story has been elaborated.

Key words: Black faces, short story, novel, roles, characters, evil faces and evil nature.

د خپلو خیالاتو د څرګندولو د پاره د هر زنده سري خپل خپل طریقه کار وي څوک په کوم اندا زکښې د خپلو خیالاتو څرګندونه کوي او

---

* Mphil Scholar Pashto Academy University of Peshawar

څوک په کوم انداز کښې، خو ولې انسان ته د خپلو خیالاتو د څرګندولو د پاره بې شماره طریقې ورځي" او د خیالاتو دا څرګندونه د هر انسان په فن کارۍ او د هغه په هنرمندۍ اډانه لري څوک ئې په ساده باده خبرو اظهاروي، څوک ئې په ناز و ادا ، څوک ئې په شعر و شاعرۍ او څوک ئې په نثر کښې اظهار کوي۔

ادبي دنیا کښې غزل او یا شعر د خپلو خیالاتو د څرګندونې د پاره ډېره اسانه او مؤثره لاره ده، چې سړے پکښې خپله مدعا په رسا توګه او په اغېزناکه طریقې سره وړاندې کولې شي په لنډو ټکو کښې دا چې سمندر په کوزه کښې رابندولې شي خو که د شعر معنې هر څومره هم وسعې شي خو لمن ئې بیا هم تنګه لنډه وي چې ډېرې مدعاګانې پکښې مبهمې پاتې شي خو د دې تر څنګ د نثر لمن او جولۍ ډېره فراخه وي چې سړے پکښې په خلاص مټ په بشپړ توګه د خپلو خیالاتو څرګندونه کولې شي خو بیا په تېره تېره په نظر کښې د افسانې صنف د ټولو نه زړۀ راښکونکے او ځانګړے حېثیت لري چې افسانه نګار پکښې د خپلې ټولنې انځورګري په ډېر ښکلي انداز سره کوي یعنې په افسانه کښې په داسې انداز سره د ټولنې په خامیو او خوبیو باندې قلم پورته کېږي چې افسانه نګار پکښې له خپله مدعا او د زړۀ بړاس وباسي یعنې نۀ کباب سوزوي او نۀ سیخ۔

افسانه د جدید دور جدید پېداور دے افسانه اول په انګرېزۍ کښې راغلې وه د انګریزۍ نه بیا اردو ته او د اردو نه بیا پښتو ته رامنتقل شوې ده ۔

لا تر دې دمه د افسانې داسې کوم جامع تعریف نه دې شوې چې وربانديې ټول ادبي پوهان یوه خُله متفق شوي وي خو په عام توګه د

افسانې تعریف داسې کړېږي چې هغه نثري لیک یا قیصه چې په یو نشست کښې پائې ته ورسي۔

"افسانه داسې قیصه وي چې د انسان د حقیقي ژوند یو اړخ وړاندې کوي او دومره وي چې په نیمه ګهنټه کښې ختمه شي یا کم از کم یو نشست کښې ختمه شي۔"1

د افسانې مېدان معلوم او محدود وي او په عمومي توګه افسانه د یو کردار نه چاپېره چورلي ، سحر یوسفزے " په ادب څۀ دے؟" نومي کتاب کښې داسې ګویانه دے۔

"افسانه یوه وړه قیصه وي چې نه خو د داستان یا ناؤل غوندې اوږدۀ وي او نه د ډرامې په شانتې پکښې ډېر کردارونه وي۔"2

د افسانې د لنډ والي او اوږدوالي په حواله ښاغلے سحر یوسفزے داسې وائي چې:

" د دې د پاره که افسانه وړۀ وي چې بنده ئې په لږ ساعت کښې خلاصه کړي نو دا زیاته ښۀ ده ځکه چې لوستونکے په دغه لږ ساعت کښې د افسانې په لوست یکي یو اثر وچت کړي ولې که دا ډېر اوږده شي چې په ګېنټه یوه نیمه کښې خلاصه نۀ شي نو کېدے شي چې په افسانه د خیال یو والے او اثر موجود وي ولې بیا به په لوستونکي دغه اثر پوره پوره او نه غورزیږي۔"3

د افسانې په حواله ښاغلے مقدر شاه مقدر وائي چې:

"افسانه هغه لنډه قيصه وي چې يو خاص واقعه يا تاثر د فني لوازماتو په چوکاټ کښې دننه په الفاظو کښې راونغاړلے شي چې دا واقعه يا تاثر به ارومرو د ژوند د څۀ مسلې سره تعلق لري۔"4

افسانه که هر څو يوه خيالي لنډه او مختصره قيصه وي خو ولې بيا هم ترېنه مقصد د معاشرې اخلاقي، سماجي، سياسي، او معاشي اصلاح وي په دې حواله سحر يوسفزے داسې وائي:

"افسانه د يوې معاشرې نه چونړ کړي شوي سړي واقعې يا ماحول نه يوه برخه وي او بيا دا هم د مکمل سړي د پېښو يا چاپېرچل بيان نۀ وي بلکې د دغه څيزونو د يو اړخ ذکر وي۔"5

او په يو بل ځائے کښې په افسانه کښې د حقيقت نګارۍ په حواله څه داسې وائي چې:

"په افسانه کښې د موضوع ښائست، رښتيا والے او مقصد په دې کښې خوند هم پېدا کوي او نۀ ختمېدونکے اثر هم۔"6

انسان ته په هر عمل کښې نيک نيتي پکار ده او هر کار ورته په دې غرض کول پکار دي چې ګنې زما د دې فعل نه خو به چا نه چا ته څۀ نه څۀ فېض ورسي همدغه رنګ هغه افسانې ډېرې کاميابې ګڼلې شوې دي چې په کومو کښې د معاشرې د اصلاح د پاره څۀ نه څۀ پېغام موجود وي۔

"د افسانې موضوع هره وړه لویه واقعه کېدے شي دا
واقعه رښتیا ښکاري او که دروغژنه ولې په داسې رنګ
دې وي چې رښتیا ښکاري۔"7

پېژندګلي:

ایاز الله ترکزي د فرورۍ په میاشت په کال 1976ء کښې د امان الله په کور کښې په یوسف خان ګړهۍ مېره کچوړۍ پېښور کښې سترګې غړولې دي په قام مومند ترکزے دے ړومبنۍ زده کړې ئې د کلي په یو مکتب ګورنمنټ مډل سکول ظاهر آباد کښې کړې دي۔ د لسم ټولګي سند ئې د څوکنو هائي سکول نه په 1991ء کښې ترلاسه کړے دے په کال 1993ء کښې ئې د دولسم ټولګي سند د ګورنمنټ کالج پېښور نه او د څوارلسم او د شپاړسم سندونه ئې په (پرائیویټ) توګه د پېښور پوهنتون نه تر لاسه کړي دي او نن سبا د پښتو اکېډیمۍ پېښور پوهنتون نه په پښتو ادبیاتو کښې د ایم فېل ډګرۍ تر لاسه کولو په هڅه کښې دے۔

د ایازالله ترکزي نوم په پښتو ادب کښې نوے نه دے د هغه نوم په پښتو ادب کښې په ډېرو حوالو سره پېژندے شي د شاعر، د افسانه نګار، د ناؤل نګار او د کالم نګار په حېث خو ئې په پښتو ادب کښې خپل ځان ښکاره کړے دے خو ولې په خاکه نګارۍ او په تحقیق کښې هم خپل یو ځانګړے مقام لري تر نن تاریخه پورې ئې د پښتو ادبي پنګې ته خپل پنځه تصانیف په جولۍ کښې اچولي دي چې پکښې جونګړه (ناؤل) ګل سپرلے (شاعري) دُرشل (افسانې) تور مخونه (افسانې) او جامونه د زم زم (سفرنامه) شامل دي او د دې تر څنګ ئې "د پښتو ژبې ناؤل نګار پرویز شیخ د فن او شخصیت یوه تحقیقي او تنقیدي جائزه" (نثر)

کوچ مال (د فرید جان بابا شاعري ) او دیوان فرید جان (شاعري) شهکار تالیفونه هم پښتو ادب ته وربخښلي دي او داسې د نورو ډېرو ادبي او دیني کتابونو سمؤنه، ترتیب او تدوین وغېره ئې هم کړې د ے ۔

د ایازالله ترکزي افسانه نګاري حقیقت نګاري:

د افسانه نګار په حېث چې ایاز الله ترکزے په خپله ټولنه کښې څه هم واقعات محسوس کړي دي نو د هغو واقعاتو نه ارومرو اغېزمن شوے دے او په خپلو افسانو کښې ئې د حقیقت رنګ اچولو کوشش ښۀ د زړۀ نه کړے دے او تر ډېره حده پکښې پوره پوره کامیاب شوے هم دے کامیاب افسانه نګار هم هغه ګڼلې شي کوم چې په غوره طریقه باندې د خپلې ټولنې نمائندګي په ښۀ ډول وکړې شي ځکه خو مقدر شاه مقدر په افسانه کښې د حقیقت نګارۍ او د یو ښۀ افسانه نګار په حقله داسې وائي:

”افسانه که څه هم یوه فرضي قیصه وي خو دا حقیقت ته نزدې کول هم د افسانه نګار کمال دے او دا کمالات چې په افسانه کښې نۀ وي نو نۀ خو افسانه ښۀ افسانه ګڼلې شي او نۀ فنکار ښۀ فنکار جوړېدې شي افسانه یو مختصر فکري داستان وي چې په یوه خاص واقعه یا کردار رڼا اچوي۔“8

او آیاز الله ترکزے د مقدر شاه صېب په دې ټاکلې شوي اصولو باندې ښۀ په تول پوره خېژي۔

آیازالله ترکزے په خپله معاشره ښۀ ژور نظر ساتي او دې خبرے ته ئې ښۀ پام دے چې په معاشره کښې څه کېږي او څه روان دي او د خپلو

افسانو په زور ئې خپلې معاشرې ته ښۀ او بد په ګوته کړي دي په دې حواله د "تورمخونه" په سریزه کښې ډاکټر نګاه حسین نګاه داسې وائي:

"د لیکوال خپل مقصد او مدعا دا وي چې د معاشرې وګړو ته د خپلې معاشرې ښۀ او بد په ګوته کړم او عام اولس ترې خبر کړم لیکوال غواړي چې په معاشره کښې زۀ کوم بدلون راوستل غواړم عوام او خواص دې ور کښې راسره برابر شریک شي او د یو انقلاب په شکل دې د معاشرې د خلقو سوچ او فکر بدل شي۔"9

تور مخونه د ټولنې د پټو خامیانو هېنداري افسانې:

د افسانه نګار په حېث د ایاز الله ترکزي د افسانو دوه مجموعې" درشل، او "تور مخونه" چاپ دي۔

دلته ئې د "تور مخونه" افسانو په یوڅو نمائنده افسانو توند نظر اچوو چې د ښاغلي افسانې زمونږ د ټولنې د ستونزو په کومه پېمانه عکاسي کوي۔

**1**- سوالګره:-

سوالګره د تور مخونه مجموعې ړومبۍ افسانه ده چې پکښې مصنف دوه مهمو ستونزو ته په ډېر ښه ډول اشاره کړې ده یوه دا چې زمونږ د ټولنې ډېر نارینه وګړي چې په خپل کور کښې خو خپلو زنانو ته د پلار، د رور، دترۀ، او د ښه معزز خاوند په جامه کښې ښۀ په رعب داب کښې ژوند تېره وي خو ولې باهر ته هم دا معزز وګړي پردې هرې مجبورې او نا مجبورې زنانه ته د هوس په نظر ګوري او بله مهمه ستونزه

دا چې مونږ ولې په وړو وړو خبرو خپلې د وینې ریشتې پرادۍ کوو او زمونږ په سترګو ولې داسې د آنا پتۍ ولګېږي چې بیا مونږ خپلې د وینې رشتې هم نۀ پېژنو۔

2 د ظلم انتها:-

د ظلم انتها نومې افسانه کښې مصنف زمونږ د ټولنې هغه ناوړې کار ته اشاره کړے ده چې په کومه کښې زمونږ د ټولنې ډېر مشران خلک ککړ دي یعني د خپلې خور، لور د خپل عمر نه ډېر زیات د عمر سړي سره ناسمونه رشته او وادۀ کول،

په دې افسانه کښې مصنف دا په ګوته کول غواړي چې د خپلې خور، لور په رشتو کښې هم مونږ خپل څۀ ذاتي مفاد په پام کښې نیسو او د څو پېسو ټکو په لالچ کښې د هغوي ژوند په سور اور کښې اچوؤ۔

3 بدل:-

بدل افسانه یواځې زمونږ د ټولنې نه بلکې د هرې ټولنې یوه عکاسه افسانه ده په دې افسانه کښې هم مصنف دوؤ سترو ستونزو ته ګوته نیسي د ټېکنالوجۍ (موبائیل نېټ وغېره) غلط استعمال، او د بې اعتبارۍ په لور۔ موبائیل او نېټ که یو طرف ته زمونږ ډېرې مسئلې هوارې کړې دي خو ولې بل طرف ته ئې مونږ ته ډېرې ستونزې هم جوړې کړې دي د دې موبائیلونو او د نېټ له وجې د ډېرو پېغلو تر څنګ وادۀ شوې ښځې هم په دې عذاب کښې اختۀ دي او د پرادو او غلطو خلکو سره ئې یارانې جوړې کړې دي چې روستو پرې یا د کور وګړي معلوم شوي دي او یا خو پکښې د ځنې د خپل کور نه په تېښته کښې بریالې شوې دي چې بیا پکښې د زیاترو منطقي انجام په مرګ تمام شوي دي په

دې افسانه کښې مصنف بله اشاره د بې اعتبارۍ طرف ته کړې ده داسې ډېر کورونه هم شته چې په هغې کښې صرف ښځه او خاوند استوګنه کوي د خپتې د جهنم د اور وژلو د پاره لازم ده چې بنده څه نه څه پښه او لاس اواهي نو د اعتبار او اعتماد په اساس سړے خپله تورسرې په کور کښې يواځې پرېږدي چې ګني زما تور سرې به زما شمله هېچا ته نۀ ښکته کوي خو بيا هم پکښې ډېرې د اعتبار او د اعتماد په دې معيار پوره ونۀ خېژي ۔

**4 کېنسر:-**

په کېنسر افسانه کښې مصنف سائيکي او وسوسي خلک په نخښه کړي دي سائيکي او وسوسي هغه خلک دي چې که چا ورته هسې هم د ګپ نه اوئيل چې او هو، دا رنګ دې څومره زېړ شوے دے ولې څه بيمار ئې که؟ نو د دې خبرې سره به بيا په ځان د کلي او د ښار حکيمان او طبيبان ستړي کړي خو د دې دا زېړ رنګ به بېرته ځاې ته رانشي چې دا هم يوه لويه مسئله ده ۔

**5 زۀ به بيا تا سره خبرې نۀ کوم:-**

په دې افسانه کښې مصنف په خپل وطن کښې د عام اولس غريبي او بې وسي ژړاوي، ډېر خلک خپل ماشومان او زنانه د خپل شفقت د سيوري نه محروم کړي او د هغوي د ضروورياتونو پوره کولو لپاره باهر هېوادونو ته له ډېرې مجبورۍ کوچ کوي خو دلته دا سوال راولاړېږي چې زمونږ هېواد وال ولې پردو هېوادونو ته مسافر کېږي خدائې تعالیٰ زمونږ وطن په هر نعمت شته کړے دے خو زمونږ په وطن

کښې داسې څوک مخلص او ایماندار خلک نشته چې دا نعمتونه په کار راولي او خپل غریب اولس ته په خپل وطن کښې د کار روزګار مواقعې په لاس ورکړي۔

**6 دروغ:-**

په دې افسانه کښې مصنف د مور ډېر اوچت مقام ښودلے دے مور په ډېره غریبۍ کښې هم خپل بچي خوارو ذارو ته نۀ ورکوي خپله خېټه خو نهره ساتي خو ولې د خپلې برخې خوراکه به هم په خپلو بچو پېرزۀ کوي خپل ځان خاورې ایرې کړي خو خپل بچي ګل ګل کړي بیا په دې کښې هم ځینې بدبخته د خپل مور او پلار په اهمیت ځان پوهه نه کړي او د دوئي د لاسه د دې دنیا نه زړۀ چاؤدي لاړ شي۔

**7 پېرے غل:-**

په پېري غل افسانه کښې لیکوال هغه د لاسټوني مار ته اشاره کړے ده چې تۀ خو به ورته لکه د خپل سکه رور اوائې او یا به ورته د بچي په سترګه ګورې خو ولې هغه به درته د ټک درکولو مواقعه ګوري چې له کبله به ئې د عمرونو قدیمونو تړلې کورنۍ په زړۀ بدوي د یوې بلې جدا شي۔

**8 تور مخونه:-**

تور مخونه افسانه کښې هغه تور مخونه راښکاره کړي شوي دي کوم خو چې خپله خور، لور د خپل کور په چاردیوارۍ کښې په عزت سره لیدل غواړي خو باهر ته به د نورو په عصمتونو پسې لیواله ګرځي خو بیا ئې مزغه په هغه ځاې کښې ځاې ته راشي چې د هوس دا ګردش ئې د خپل کور په زنانۀ وچورلېږي۔

**9 بوائے فرېنډ:-**

په دې افسانه کښې هم مصنف د ټيکنالوجۍ د ازادۍ او د غلط استعمال د معاشرې د پاره زهر قتل ګرځولې دے چې روستو پکښې بيا خبرې ګرل فرينډ او بوائے فرينډ ته ورسېږي۔

**10** تربيت:-

دا افسانه هم ډېره ده پند او د خوند ده، په دې افسانه کښې مصنف دا ښائي چې ښۀ او بد تربيت د بچو په مستقبل کښې ډېر اهم رول لوبوي بايد چې مونږ د ماشومتوب څخه د خپلو بچو تربيت په ښه ډول اوکړو او په ژوند کښې ورته هر ښۀ او بد کار په ګوته کړو نو دا به ورته د ژوند په هر ډګر کښې په ګټه تمام شي۔

**11** راز:-

په راز افسانه کښې ليکوال زمونږ د ټولنې يوې سترې خامۍ ته ګوته نيولے ده زمونږ په ټولنه کښې زياتر وګړي د خپلې لور يا د رور او زوي د مرضۍ نه خلاف د هغوي د ابدي ژوند فېصلې کوي چې بيا روستو په خفګانونو په تربګانو او په پېغورونو بدلې شي ۔

**12** انصاف:-

په دې افسانه کښې مصنف زمونږ پام دې خبرې ته ګرځولے دے چې زمونږ په ټولنه کښې خو د انصاف تورې شته خو ولې په انصاف باندې عمل کول نشته که چرې زمونږ د ټولنې څو سرکرده مشران د ناپوهۍ او يا د څه لالچ په بدل کښې توت ته بوکيانه اوائي نو بيا به ئې د هېچا پلار وربانديې توت نۀ کړي بس هغه توت به بوکيانه وي مدعا ئې دا ده چې په داسې ټولنه او هېواد کښې ژوند کول ډېر ګران وي چرته چې په عملي توګه انصاف ناپېدوي۔

**13 قرض:-**

قرض د تور مخونو افسانو هغه سالاره افسانه ده چې مونږ ورته د "تور مخونه" مجموعې زړۀ وئیلے شو په قرض افسانه کښې هغه ناوړه فعل ته اشاره شوې ده چې تل د پاره وسدارو او زردارو خلکو د مجبورو خلکو د مجبور نه غلطه فائده اخېستې ده او تل د پاره ئې د هغوي جائز حقونه په نا جائزه طریقه استحصال کړي دي۔

غرض دا چې د ایاز الله ترکزي د "تورمخونه" افسانوي مجموعې زیاتره افسانې په حقیقت اډانه لري او د ټولنې په هغه پټو خامو او په خرابو ئې رڼا اچولې ده کومې چې د خلکو د سترګو نه پناه دي لنډه دا چې "تور مخونه" افسانې د هرې ټولنې د ستونزو او د خامیو عکاسې او هینداري افسانې دي۔

# حوالې


1. مومند، محمد دواؤد جان "پښتو ادب ته یوه کتنه" ، **2011** ء ، مخ ، **151**
2. یوسفزے، سحر "ادب څۀ دے؟" ، دریم چاپ، **1996**ء مخ ، **212**
3. همدغه ، مخ، **215**
4. مقدر، مقدر شاه ، "علم و ادب"، **2012**ء ، مخ، **110**
5. یوسفزے، سحر "ادب څۀ دے؟" ، دریم چاپ، **1994**ء ، مخ، **224**
6. همدغه مخ، **222**
7. همدغه مخ، **216**
8. مقدر ، مقدر شاه ، "علم و ادب"، **2012**ء ، مخ، **110**
9. ترکزے، ایاز الله "تور مخونه" ، اعراف پرنټرز ندیم ټرېډ سنټر محله جنګي پېښور ، جنوري **2017**ء، مخ **10**

# د رحمان بابا د حسب او نسب څېړنه

## Ancestral research of Rehman Baba

Faisal Faran*

**ABSTRACT**

Rahman baba is a prominent and famous Pashto poet but we lack information of his life. Different researchers have different opinions about his life but they are agree at this point that he was poor mulla. In this piece of writing the researcher has compared the internal evidences of the collection of the poetry of Rahman baba with the lineage of khwaja sayel and has said that Rahman baba was not a poor religious mulla but he was from an honorable family. His elders were high ranks servants of the mughals and it was an aristocratic family.

مُلا عبد الرحمان مومند چې پښتانۀ ورته د ډېرې مينې نه رحمان بابا وائي . د پښتو ژبې د ټولو نه زيات نوم وتلے شاعر دے خو د هغه ژوند ژواک په حقله د شفائي روايتونو نه پرته نور څۀ ثبوتونه نشته خو دغه روايتونه البته څېړنکاران د پام وړ نه ګڼي خو هغه خبره چې زمکه هغه تاوده وي چرته چې اور بلېږي . دوست محمد خان کامل مومند چې په دې حقله کومې خبرې کوي د هغې په شا ليد کښې په دې باب له څۀ نا څۀ د واقعيت اندازه کېدے شي . هغه د ميجر راورټي له رويه ليکي چې!

---

* PhD Scholars Pashto Academy University of Peshawar

الف):"د لور د طرفه د هغه اولاد اوس هم د مومندو په بهادر کلي کښې اوسي خو د هغه د اکي يو زوي اولاد موده وشوه چې ختم شوے دے ."1

ب):"که مونږ د راوړتې بيان منو نو کېد ښي رحمان بابا خپله لُور ورارهٔ ته وادهٔ کړې وي . او دغسې د عزيز خان اولاد هم د هغه نمسي وي. د دې نه علاوه په هزارخانې کښې هم ځنې خلق د رحمان بابا نمسي ياد ېږي."2

ج): "اګر که د عزيز خان ذات د تاريخيت له شکه بهر دے . خو د رحمان بابا سره د هغو د خپلوئ او تعلقاتو په باب شان شان خبرې کېږي ځوک ئې ورور ځوک ئې تربور او ځوک ئې ترهٔ يادوي-"3

د): "غورياخېل په پنځو قبيلو مشتمل دي او ابراهيم خېل په حقيقت کښې دې پنځو قبېلو کښې د يوې يعنې د مومندو، دوېزي نومې ښانګې يوه محدودو وړه خېل خانه ده. يعنې ښکاره شوه چې رحمان باباموندو کښې دوېزي او دوېزو کښې ابراهيم خېل دے-"4

د دې ټولو اقتباساتو نه جوتېږي چې ملا عبدالرحمان مومند ابراهيم خېل، دوېزے مومند ، غورياخېل وهٔ . او عزيز خان نومې کردار سره ئې نزدے رشته وه . ځکه عزيز خان ځوک فرضي کردار نه دے . دوست محمد خان کامل مومند په دغه شاليد کښې بحث غزوي او وائي چې د هغه تعلق د ښې اوچتې طبقې يعنې اشرافيه سره وهٔ . د رحمان بابا د کلام نه هم معلومېږي که هغه هر څو ځان غريب او ملنګ بولي د نسب په

اعتبار سره د پښتنو د وچتې طبقې سره ئې تړون لرلو او د خانانو د کورنۍ نه وۀ. دا شعر د دې په تائيد کښې پېښن کېدے شي. –

"نـــۀ شـــي د خانـــانو د ملنګـــو ســـره کلـــي
چرتـــه عزيـــز خـــان چرتـــه ملنـــګ عبـــدالرحمان"5

دلته نوميالے څېړنکار د عزيز خان شخصيت هم هاغسې حقيقي اخلي څنګه چې وړاندے ذکر وشو. په ملا عبدالرحمان مومند څېړنه کول د" کېس سټډي " حېثيت لري. او کېس سټډي کښې د نفسياتي مطالعې اوتوکنې نه کار اخستلے کېږي چې ورته "ماهيتي څېړنه " وائي. مونږ که د دوست کامل خان مومند درېځ د نفسيات له رويه وڅېړو نو دغه موقف به ډېر جوت شي. لکه دې شعرونو ته ځير شئ! –

"پېـــدا کـــړي خـــدا ے ســـړي پـــه تفـــاوت دي
هســـې نـــه چـــې جهـــان واړه برابـــر د ے"6

"ډېـــر هنـــدکي پـــه جهـــان ګرځـــي د چـــا يـــاد دي
عشـــق اعلـــي نامـــه د هيـــر او د رانجـــا کـــړه"7

اصـــيل نـــه د ے چـــا پيـــرود ے چـــا پلـــورلے
تـــۀ اصـــيل پـــه ديـــدن پېـــرې هـــم ئـــې پلـــورې"8

همســـايه او چـــرې کـــار ئـــې پښتـــانۀ شـــي
او پـــه اصـــل بـــه مـــوچي وي يـــا قصـــاب"9

چـــې اشـــراف د هســـې خريـــو پـــه لاس کيـــوزي
تـــرو خلاصـــي بـــه ئـــې لـــه خونـــه پـــه کـــوم بـــاب وي"10

ســـپين چلتـــار پـــه يـــوه ټکـــي بـــد نما شـــي
د ارزالـــو چـــارې مـــۀ کـــړه کـــه اشـــراف ئـــې"11

ځـــۀ زبرګـــي بـــه ئـــې د بـــاز او د همـــا وي
زبـــاني ذکـــر کـــه ســـل رنګـــه کـــړه خـــراړه"12

منم دې شعرونو ته دعقيده جبراواختيارپه حواله کې هم کتنه کيدې شي خو که بل خواوکتے شي نو صوفيانو د حسب او نسب او د کسب په حواله داسې په شدت سره رد نه کوي لکه څنګه چې دې شعرونو کښې شوې ده. دا ځکه هم چې دصوفي تحريک يوه بنيادي او اضطراري وجه معاشي هم وه دا د عربيانو د نسلي او قامي غرور او تکبر خلاف پاڅون هم وۀ . عربو به نور قامونه څۀسپک ګڼل چې په خپلو کښې هم په قبائلي بنيادونو او بيا يوه قبيله کښې د پلار نيکه ، مور نيا ،خواښې انګور په شخصي رشتو ئې په يو بل د بر ترۍ دعوې کولې . د دا قسمه شخصي دعوو يوه غوره تاريخي بېلګه مونږ د مامون الرشيد عباسي او د امام زېن العابدين تر مينځه د حکومت او د اقتدار په شخړه کښې يو بل ته ليکلي خطونو کښې وينو چې د برترۍ دعوو کښې د خپلو نيا ابۍ ګانو د مرتبو د وچتوالي دعوې هم کړي دي .او دې دعوو کې تردجاهليت تر دورې رسيدلي دي ددې نسلي وياړ اوکبر په ضد په صوفي تحريک کښې زياتره لوي صوفيان کسب ګر او دېره ماران وو چې د دوي د نامو سره د لګيدلي نسبتونو نه ئې پته لګي . لکه غزالي، قصاب، حداد ،حلاج،

عطار، نجار او دغسې نور صوفيان چې ځان سره د قبيلې په ځاے د خپلې علاقې يا كسب نسبتونه لګوي د هغې وجه هم دغسې د كسب ګرو يا دلاندې طبقې سره تعلق لرل دي .لكه تشتري ،بغدادي ، كرخي ، شيرازي ، او دغسې نور كه وكتلے شي نودوئې هم زياتره كسب ګران دي . دا ځكه خو د تصوف معيارونو كښې د حسب او نسب نفي او خاكساري او انكساري ته رد نسليت او شخصيت ته خصوصي اساس او مقام حاصل دے . فقيري ملنګي او درويشۍ باندې له كچه زيات زور وركوي . لكه نن سبا چې ملاتوب دې دغسې تصوف پخوا د كسب ګرو د پرېوتې طبقې د پاره د سربلندۍ او خلكو كې د امتياز درنښت او توجه موندلو يوه لنډه لاره ګرځېدلې وه . د خاكسارۍ روايت چې كله تصوف ته رادننه شو نو وروستو ترې بيا هغه صوفيانو هم سرغړواے نۀ دے كړے كوم چې د اشرافيه طبقې نه راغلي وو. ځكه چې ددتصوف بنيادي خاصه شوه دلته چې د تصوف د دې معيار له رويه د ټولو نه لويه نيوكه دا كېدے شي هغه دا دے چې اګر په حسب او نسب كښې څۀ نشته او فضيلت دې كښې لټول نه دي پكار نو اخر ولې چې د نقشبندي متصوفانه سلسلې نه پرته چې په ابوبكرصديق رض تمامېږي د تصوف ټولې سلسلې خامخا د نبي پاک عليه السلام تربور او زوم جناب علي مرتضي هاشمي قرېشي ته ځان رسوي او ولې بيا ساداتو ته په تصوف كښې خاص مقام او لوئے درنښت حاصل دے ؟ د دې جواب بيا دا هم كېدېشي چې تربور ولي په خپل ځاے خو جناب علي مرتضي رض په هاشميانو قرېشيانو كښې تر تولو زيات هوښيار او له حده زيات دانشمند وه ځكه ورله د تصوف منبع مفروضه جاتي "علم لدني " وركړے شو خو يوه پوښتنه دا كېدے شي چې په ټولو قرېشو كښې د نبي پاک عليه السلام دې تربور ولې دغه خاصيت

لرلو . خو په هر حال دا یوه معترضه جمله وه چې د تصوف د حسب او نسب د رد د تصور سره نېغ په نېغه باندې نسبت لري.او دځواب موتاځه ده دې بره شعرونو ته چې مونږ ګورو نو دې نه دا هم مفهوم اخستے کېږي چې د دې تعلق د تصوف او د فقهې د رامنلي د تقدیریت او جبریت مسلې سره دے . خو دغه یو اړخ ته د دې شعرونو اړول به ناجائزه ځکه وي چې د تصوف بل موقف کوم چې د شاعر دغه جبریت سره جوښت په ټولنیز شالید کښې داسې راخستے شوے دے . د دې شعرونو شاته پروت لاشعور صفاصفا دا وائي چې ویونکے ئې د اشراف اود اجلاف مفکوره د صوفي د ذهنیت له مخه نه ولې د یو خان یا زورور سړي د ذهنیت له رویه راخلي . اګر که د دې شعرونو سیاق او سباق د متن له رویه هر څومره هم راوتي معنویت ولري خو جاګیردارانه خوئي بوئ ئې ډېر څرګند معلومېږي . او د دوست محمد خان کامل مومند وړاندې ذکر شوې خبرې سره ملاتړ کوي چې ملا عبدالرحمان مومند د وچتې کورنۍ غړے وۀ . د دا ډول شعرونو په حقله به د نومیالي څېړنکار د اروآښاد کامل مومند څو نور اقتباسات هم غوره وي . دې نظم کښې د وښا په وخت لکه د اوچتې طبقې د یو وګړي په توګه رحمان بابا هم موچې او قصاب ته سپک کتلې وي . ګوندې څوک دا ووایي چې کېدیشي دا د رحمان بابا خپله عقیده نه وه . بلکې د نورو پښتنو د خیال مطابق د پښتون معاشرې د یو خراب اړخ عکاسي ئې کړې ده . خو زما تر فهمه به دا تاوېل صحیح نه وي ځکه چې شاعر په خپله دې شعر کښې معامله صفا کړې ده .

"چې اشراف د هسې خریو په لاس کیوزي
ترو خلاصي به ئې له خونه په کوم باب وي"14

"علاوه د دې نه که رحمان بابا مدعا صرف د نورو پښتنو د خيالاتو عکاسي کول وو نو کوم ځاے چې په نورو ډېرو ځايونو واشګاف تنقيد کړے دے نو کم از کم د خپل مطلب د وضاحت د پاره به ئې د ذات پات د ظالمانه تفريق او امتياز دغه نمونه هم رد کړې وه يا به ئې په څه بل رنګ کښې خپل پوزيشن واضحه کړے وۀ۔"15

سمه خبره داده چې د دې شعرونو نفسياتي تجزيه هم هغه هر څۀ ښائي کوم ته چې نوميالے څېړنکار رسېدلے دے ځکه دا ډېره عجيبه خبره ده چې شاعر د عشق د عالي مرتبې خبره کوي نو هم ورته پنجابے د سړي زوے نه ښکاري ښکاره دې وي هندکے به پخوا پنجابي ته هم وئيل کېدل چې هندکو هم ځانله ژبه نه ده دپنجابۍ مغربي څانګه ده . او ځکه هم چې هندوستان د اټک نه اخوا ګڼلے کېدو . هم دغسې سره ددې چې هغه د زبرګۍ خبره کوي خراړه د باز سره مساوي نه مني ګويا مونږ وئيلے شو چې دا ډول شعرونه د شاعر د دې مشهور شعر سره شاعر ته خپله د تضاد معنويت ورکوي .

"زۀ عاشـــق يـــم ســـروکار مــــې دے لــــه عشـــقه
نـــه خليـــل نـــه داوېـــزے يـــم نـــه مومنـــد"16

دلته هم د بره طبقې د يو زورور سړي خوئي کوي چې د صوفي کېدو باوجود د شاعر د دماغو نه دغه خوئي نۀ وځي . اګر که که هغه په شعوري توګه هر څومره شعرونه د حسب او نسب خلاف ووائي . خو د دې شعرونو اهميت د تصوف د منلي روايت دننه دے نۀ چې د شاعر د نفسياتو سره دے . دغسې څو نور شعرونه هم مونږه د دوست محمد خان کامل مومند په موقف کښې وړاندې کولے شو .

"خوشـــــحالاو دولتـــــا مـــــې غلامـــــان دي
زۀ رحمـــان پـــه پښــــتو ژبـــه عـــالمګير يـــم"17

"يـو خوشـحال يـو كـم سـل خټكـه نـور پـه طبعيـت كښـې
ځـــار شـــه د رحمانـــه ســـړښي لـــه يـــوه فـــرده"18

"د دلبـــــرو صـــــدقې لـــــره ئـــــې غـــــواړم
هســـې نـــه چـــې پـــه دنيـــا پســـې زهيـــر يـــم"19

"زۀ درهـــم لـــرم پـــه كـــور كښـــې نـــه دېنـــار
ولـــې نـــور خلـــق مـــې بـــولي دنيـــا دار"20

په دې شعرونو تجزيه كښې يو ټيک ټاک اولسي ژوند كونكے معاشرتي انځور دے چې سرتېزه هم دے او د پېسې ټكې سختن هم دے . دې اخري شعر ته وګورئ دې كښې دنيادار د نن معنو كښې نه دے يعنې د اخرت د غم كونكي د ضد معنو كښې دنيا پرست . بلكې دې كښې د دنيا دار مطلب خپله معني يعنې مالداره كښې راغلے دے . پوښتنه داده چې اخر خلق ولې دغه كردار دومره مالداره ګڼي؟ . لكه دې شعر نه هم اندازه لګي چې دې كردار نه هر څوک خپله خپله مدعا پوره كول غواړي او ښكاره خبره ده چې داسې يو كردار چې د هغه نه د مختلفو طبقو خپله خپله مدعا تر سره كول غواړي، دغه كردار به په معاشرتي او اقتصادي دواړو حوالو سره د څه مرتبې زور او ځواک خاوند وي.

"كـــه مـــې ورور كـــۀ مـــې عزيـــز كـــه مـــې فرزنـــد دے
هريوغـــــــواړي خپلـــــــه خپلـــــــه مـــــــدعا"21

دا تصوير ديو داسې ملنګ درويشه سړي نه ښکاري چې د يوې لاندې پريوتې يا عامې طبقې سره ئې تړون وي . وئيلے شي چې اسلوب د شخصيت دوېمه نامه ده . که دا خبره لږ تر لږه هم سمه وي وي نو مونږ ته د دې شعرونو شاته شخصيت هم هغه ښکاري کوم ته کامل مومند اشاره کړې ده . تاسو د پښتو ژبې ټول هاغه شاعران وګورئ چې د تصوف سره تړلي دي چرته به هم زور زبردستي او زجر او توبيخ داسې جارحانه انداز هم ونه مومئ کوم چې د ملا عبدالرحمان مومند دے . دغه نور شاعران هم هغه موضوعات او مضامين راخلي خو د" وخوره، ډک شه او اونغره "اندازه ئې اسلوب نه لګي د پښتنو يو روايت دے چې يو پرګنه خيلخانه چرته ځاے استوګنه کوي نو معزز کورنۍ ئي خپلې شجرې هم د ځان سره خوندي ساتي دغسې يوه شجره د افغان غوريا خېل کتاب مؤلف سکندر خان ويسا د اټک ورکړې ده . دې شجره کښې د ملا عبدالرحمان مومند ، د خاندان د پلار نيکۀ نومونه راغلي دي لکه بهادر خان المعروف بهادر بابا ، مدک خان مشهور په غازي بابا او ابراهيم خان د چا په نامه چې د دوي قبيلوي پېنه ده . دشجره څه داسې ده چې "شجره" حاجک خان ! مدک خان( معروف په غازي بابا ) ! اتمان خان ! بهادر خان (بهادربابا دبهادركلي) ! ابراهيم خان (خطاب دلاورخان) ! سمند خان ! عبدالستار خان (خوش ارواخان) !! عبدالرحمان + عبدالعزيزخان ! ارادت خان ! زبردست خان -------وريسې نور په دې شجره کۀ نيوه کېدے شي هغه دا چې په دې کښې د ملاعبدالرحمان زوے په وړوکوالي کښې مړ ښودلے شوے دے . خو د ديوان دا خلي شهادت که مونږه دا شعر فرض کړو نو زوے ئې لوے وۀ تر دې چې خپله مدعا ئې غوښتلې شوه .خو مونږ وئيلي شو چې وړوکوالي نه به مطلب هلکوالې وي ځکه چې په دې حقله

د دسوات د عبدالعظيم رانيزی، يو شعر هم غوټ پرانست کيدې شي چې هغه پکښې وئيلي چې د رحمان بابا غوندې ماهم له غمه ديوان مرتب کړو قياس وائي چې دا غم او کناره کشي به د يوائځې زوئي دمرگ وي په هرحال شعر دادې چې

"کــه مــې ورور کــۀ مــې عزيــز کــه مــې فرزنــد دے
هريوغـــــــواړي خپلــــــه خپلــــــه مــــــدعا"22

يوه خبره داده چې د دې شجرې تعلق د پروفيسرخواجه محمد سائل سره دے د چا متعلق چې دا گومان نۀ شي کېدے چې دا به هغۀ جعلسازی باندې مرتب کړې وي . او بيا که وګورو نو د دې شجرې نه د دوست محمد خان کامل مومند د ځنې خبرو تصديق هم کېږي . لکه هغه د پادري هيوز د روايت له مخه رحمان بابا ابراهيم خېل هم يادوي او هغه دغه ابراهيم خېل يوه وړه قبيلوي پښه يادوي . که مونږ وګورو نو ابرهيم خان چې د جهانګير بادشاه په وخت کښې ورته د دلاور خان خطاب هم ورکړے شوي او دلاهور صوبيدار شوې دے د شاعر غور نيکۀ دے . ښائي چې د مغل د خدمت غوض نمانځنې نه پس هغه معروف شوے وي نو اولاد به ئې په ابراهيم خېلو ياد شوے وي او دا ځکه ابراهيم خېل د دوېزو يوه وړه ښپه ده . ښکاري د ابراهيم خان دور د مغل جهانګير دور دے او د شلمې صدی، پورې تر دا مينځه دومره وخت نۀ دے تېر شوے چې ابراهيم خېل دې د نفری، په لحاظ په لوے تيراژ کښې راشي . دا شعر يو بل حقيقت ته هم ګوته نيسي چې بهادر بابا او غازي بابا د عبدالرحمان مومند نيکيان وؤ . دې کښې بهادر بابا زيات مشهور دې او بهادر کلے کوم کښې چې شاعر زېږدلے دے هم د دهغۀ د نيکه په نامه دے . دا چې بهادر بابا د ابراهيم خان پلار دے يعنې ناشونې نۀ ده چې د

بهادر بابا د شیخۍ پیرۍ او تصوف د نوم ګټلو نه پس د هغهٔ زوي ابراهیم د هغه د نامې څخه فائده اخستې وي او یو معزز مقام ئې هم تر لاسه کړي وي داسې مثالونه مغل دور کې شته دي دپیرروښان لمسې رشید خان او کورنۍ له هم بیا مغلو جاګیر او منصب ورکړې و . بل دې ته کتل پکار دي چې تېر کښې د سره راروان نومونه لکه مدک خان او حاجک خان داسې نومونه نهٔ دي کوم چې د هغه وخت لیکلې لوستلې اشرافیه طبقې کېښودل . او دا هم چې د شجرې دوېم نیکهٔ مدک خان چې مشهور په غازي بابا دے . چې نن ئې هم مزار په بهادر کلي کې شته دا ښائي چې دې تېر کښې وړاندے نه تصوف راروان دے خو دې تصوف نه وړاندې داکورنۍ معروفه یا د څه اثرورسوخ سختننه نه وه تصوف پیري مریدي نه پس ئې یو خاص اهمیت ترلاسه کړې دې . د ټولو نه لوے داخلي شهادت کوم چې مونږ ته د دیوان نه ترلاسه کېږي هغه د شاعر خپل شعر دے چې د خپلو نیکیانو دغه متصوفانه شالیدته اشاره کوي .

"د نـــــوح زویـــــه هـــــم د نېـــــک نیکـــــهٔ نمســــــے
وهٔ ګنــــه زهٔ هـــم د یـــو نېـــک نیکـــهٔ نمســــے شـــوم"23

کامل مومند د دې شعر په حقله لیکلي دي

"لېکن په دوېمه مصرعه کښې زهٔ د مثال په توګه بیان شوے دے او د نیکهٔ نه مراد مومند یا داودزے دوي کښې کوم یو خاص نیکهٔ د رهبانیت یا د ولایت په وجه نه دے مشهور بلکې د شعر مطلب دا دے چې کهٔ څوک په خپله داسې نهٔ وي نو په دا څهٔ کهٔ د نېکانو اولاد وي ."24

د پوهه څېړنکار دغه بیان تر دغه وخته درست وهٔ تر څو چې دا شجره زمونږه مخې ته نهٔ وه راغلې .خو اوس په دې کښې د هغه دغه دوه نیکیان

غازي بابا او بهادر بابا په مونږه د دې شعر د زمانې تناظر هم ښۀ رڼا کوي . بله خبره کومه چې د افغان غوریاخېل مؤلف لیکي هغه داده " چې د رحمان بابا ترون لړۍ تنکۍ ځانګې حاجک زے کندي ابراهیم خېل سره وۀ . یو خوا حاجک خان په شجره کښې د سر نیکۀ دے . بله دا چې کندے هم عموماً اوسپدونکو ته منسوب وي . دا د ګرفت خبره نۀ ده بلکې د دې نه زیاته د زړۀ راښکون خبره مؤلف دا کوي چې دغه خاندان د مغل د حکومت لوے منصب دار وۀ .

"مغل باچا نورالدین جهانګیر د دلبار سره سردار ابراهیم خان بخطاب دلاور خان منسلک وۀ . کوم چې د لاهو کشمیر صوبېدار ګورنر وۀ . د پېښور محلت باقر شاه ګورګهټړۍ کښې د جامع مسجد دلاورخان بنیاد په ۱۶۰۷ء کښې دې دلاور خان اېښے وۀ " . پروفیسر خواجه محمد سائل لیکي ، ځیني خلق د دې جمات تعمیر د مهابت خان ورور دلاورخان سره منسوب کوي چې قطعي غلط او لغو او بې حقیقت روایت دے. وړاندې دا ښاغلے لیکي چې زمانه بیګ مهابت خان ، خان خانان پلار غیوربیګ کابلي د اکبر باچا د ورور د مرزا حکیم ملازمت کښې وۀ. د هغه د مرګ نه پس اکبر کنور مان سنګهه د کابل واکمن کړو نو غیور بیګ کابلي د باچا ملازمت اوکړو. د جهانګیر وخت کښې د غیور بیګ زوے مهابت خان د خان خانان په لقب مشرف شو. دې دوران د هیڅ یو ورور د مغل سند تاریخ کښې د دلاورخان په نوم یا خطاب نه وینو."25

"خواجه سائل دا هم ليکي چې ماثرالامراء او اقبال نامه ، جهانګيري ، بادشاه نامه او نور تاريخي کتابونه سردار ابراهيم خان فتح جنګ او دلاورخان کاکړ نومونو او کارنامو څخه مغالطه او سهوه خوري. ابراهيم خان په خطاب د فتح جنګ د ملکه نور جهان رشته دار او د بنګال ګورنر وۀ. ابراهيم مومند به خطاب دلاورخان د لاهور او کشمير صوبه دار وۀ. او دلاورخان کاکړ بل يو وړوکے منصب دار وۀ. په ۱۶۱۴ء کښې د هفت صدي ذات او په حيثت د شاهي محل مير بخشي وۀ. ولې دلاورخان افغان د دلاورخان افغان په ۱۶۰۶ء يونيم زري ذات منصب دار وۀ."26

بله تيروتنه دغه تاريخ ليکونکي دا کوي چې د دلاورخان مومند افغان زامن جمال او جلال د دلاورخان کاکړ ښائي. د ابراهيم خان مومند زوے جلال خان هم د جهانګير دور کښې منصب دار وۀ ."27

د جهانګير په وخت کښې د ابراهيم په نامه څو واکداران مخې ته راځي. ابراهيم فتح جنګ په ۱۶۱۷ء نه تر ۱۶۲۴ء پورې د بنګال او د دې نه مخکښې د کشمير صوبېدار وۀ . خو فارسي نژاد د علي مراد خان زوے وۀ. خواجه محمد سائل د "بابړې مومند تاريخ دويم جلد

"کښې د ماثرالامراء په حواله ليکي چې جهانګير ابراهيم خان مومند ته د دلاورخان خطاب ورکړو او درې نيم زره منصبي سره د لاهور صوبيدار کړو. د شهزاده خسرو بغاوت کښې هغه د لاهور قلعه اوساتله. دلاور خان مومند

نه پس د هغه زوے جمال خان مومند د مهابت په ملګرتیا
وتاکلے شو. یوه ورځ محبت خان داسې ووې چې څوک
خپل کار کښې غفلت کوي هغه به چیترې ګزارونه خوري.
دا خبره په جمال خان بده اولګیده. توره ئې راوباسله خو
مرزا جعفر نجم ثاني راونیولو. د جمال خان زوي هغه په
جمدر اووهلو. د مهابت خان زوے خان زمان راپاسیدو او
جمال خان او د هغه زوے دواړه ئې اووژلو."28

دومره ده چې ملا عبدالرحمان مومند په حقله دغه خیال چې هغه د کومې کمې کوزې کورنۍ څخه نه ؤ نومیال څیړنکار اروابناد خیال بخاري هم خپل لیک کښې بیانوي . "رحمان بابا اګر چې کور کښې هم درهم او دینار نۀ لرل مفلس او قلاش نۀ وۀ. بلکې ښۀ خوشحال سړے وۀ د هغۀ دا خوشحالي د هغۀ د دې شعرونو نه څرګندېږي"_ !هم په دا چې نۀ له ځایه چرته خوزم هم د هیڅ یو سړي نۀ یم منت بار _نۀ مې ښکته ملک لیدلے دے نۀ پورته خبر نه یم په یمین او په یسار _اب و خور لکه اسیا په ځاے رارسي په خپل کور کښې مې سکون دے هم رفتار دې شعرونو نه دا څرګندېږي چې شاعر یو خوا د چا د احسان اخستو حاجت هم نۀ لري چرته د کار او روزګار د پاره خوځي راخوځي هم نه، د خرڅ خوراک څۀ ښۀ ذریعه ئې لرله .غالباً چې د زمکو څۀ امدن به ئې وۀ . ځکه چې په دغه وخت کښې د پښتنو امدن هم دغه لویه ذیعه وه . کۀ خیال وکړې نو په دې شعرونو کښې ئې په هغو خلقو تعرض هم څرګندېږي .څوک چې په دغه ورځو کښې د مغلو نوکرۍ په لړ کښې ښکته هندوستان ته تلل . یا د هغوي په خدمت کښې پورته ملک یعنې کابل افغانستان ته تلل . بهر کیف د دې شعرونو نه او داسې نور شعرونو نه دا قیاس کېدیشي چې

رحمان بابا کۀ خان نۀ وۀ خو د څۀ امدن څښتن ضرور وۀ . ځکه چې نو خپله روزي ورته تیاره رسېدله . او کوم خلق چې هغه یو تارک الدنیا او د دومې ملنګ ګڼي هغه په غلطه دي . او هم د دغې تصور لاندې چې د رحمان بابا کوم فقیرانه تصویر جوړ شوے دے هغه هم رحمان بابا پورې یوه ملنډه ده .''ـ''

کـۀ مـې څـوک پـه فقیـرۍ شـمېرې فقیـر یـم
کـۀ مـې څـوک پـه امیـرۍ شـمیري امیـر یـم

په دې شعرونو کښې فقیري او امیري دواړه ذو معني الفاظ دي د فقیریم مطلب دا هم کېدے شي چې مال دولت نۀ لرم او د دې نه هغه فقیر هم مراد کېدیشے د کوم فقیر په حقله چې رسول پاک فرمائیلي دي. دغه شان د امیر نه دا مراد هم کېدیشي چې شته من یم او یا د مړو سترګو خاوند یم . ـڅوک دې راکاندي قسم په کردګار نۀ درهم لرم په کور کښې نۀ دینار" ـ

"زۀ درهم او دینار نۀ لرم په کور کښې ولې دا خلق مې بولي دنیادار دلته هم دنیادار لفظونه ذو معنې دي رښتیا خبره داده چې قلندر سړے درهمونه او دینارونه کور کښې نۀ جمع کوي .بلکې کۀ څۀ هم ورله په لاس ورشي نو په بل لاس ئې وشندي۔"29

یعنې د پښتو دوه پوهه او لوئې څېړنکار په دې خبره متفق دي چې چې ملا عبدالرحمان د یوې اوچتې طبقې مالداره معززه سړے وۀ . فقیر ملنګ نۀ وۀ . د هغه په حقله د جمات د مُلا دۀ ملنګۍ دې تصور ته د بله خوا هم اشاره کوي . البته دا ممکنه ده لکه څنګه چې وائي د ژرندې غوندې خواک څښاک په خپله رارسي نو کېدې شي چې څه فقیري او

پيري ئې کوله لکه څنګه ځائے په ځائے د قلندرۍ دعوي هم کوي. خيال بخاري دا هم ليکي!

"مشهور مستشرق راورټي چرته چې د رحمان بابا نوم د ملا عبدالرحمان په شکل وليدو نو قياس ئې دا جنګولے دے .چې ضرور به کوم جمات کښې امام پاتے شوے وي . او کله عام طور سره چې يو ملا غريب سړے وي د خلقو خېر خېرات ته ناست وي نو وئي لېکل چې دې رحمان بابا يو خوار ملا وۀ۔"30

له بده مرغه دميجر راورټي په دغه تېر وتنه د مولاناعبدالمجيد افغاني غونډې پوهه عالم هم غور نۀ دے کړے ځکه هغه هم ليکلي!

"رحمان بابا په خانداني لحاظ غريب وۀ او خوشحال خان يو امير وۀ البته رحمان بابا د زړۀ باچا وۀ۔"31

بيا دهغه همنوائي کې د علامه عبدالحئ حبيبي غونډې ستر عالم فاضل سکالر هم د دغې تېر وتنې ښکار شوے دے . او ليکي چې !

"داسې معلومېږي چې رحمان بابا يو باعمله صوفي او د يو ساده باده ژوند خاوند وۀ . مګر سره له دغې چې دے له غريبې طبقې سره بللے کيدے د عشق او لوے همت په برکت د دۀ ژوند د استغنا سايه کښې تېريدۀ۔"32

هر څو کۀ د ملا عبدالرحمان د ديوان داخلي شهادتونه او ددې کيس سټډي نفسيات د دوئي ددې دريځ ترديد کوي او ورسره دغه شجره بيا د دې ترديد تصديق کوي خو بيا هم کۀ په دې حقله د څومره هم احتياط نه کار واخلو غوره به داخو د خوشحال خټک خلاف خصوصې توګه د هغه خلاف خپلو اشعارو کښې چې کومه لهجه استعمالوي او د هغۀ خپل

الواد پورې ئې څوک جوابونه نۀ ورکوي . هغۀ هم دغه خبره څرګندوي چې ملا عبدالرحمان د فقيرۍ او درويشۍ باوجود د لوئي طبقې غړے وۀ . کۀ مونږ د شجره دا خبره منو چې د هغۀ نيکه ابراهيم خان د مغلو صوبيدار وۀ نو د دې مقابله کښې د خوشحال خان خټک کورنۍ د شاه جهان تر وختو پورې د ټولو نه کم منصب پنج صدي هم نۀ لرله. چې د خوشحال خان خټک خلاف وئيلي شعرونو کښې دا خبرې نورې هم معنې خېزې پېدا کوي .

# حوالې


1. کامل 'دوست محمد خان ، رحمان بابا تاریخي ، عملي او ادبي جاج، دانش خپروندویه ټولنه ، چاپ ۲۰۰۶ء ، مخ ۷۸
2. هم دغه حواله ، مخ ۷۹
3. هم دغه حواله، مخ۵۷
4. هم دغه حواله، مخ۶۱
5. هم دغه حواله، مخ۶۹
6. رحمان بابام دیوان، زېب ارټ ،پبلشر محله جنګي پېښور، چاپ ۱۹۹۸ء، مخ ۵۹
7. هم دغه حواله، مخ ۹۱
8. هم دغه حواله ،مخ ۸۵
9. هم دغه حواله، مخ ۶۹
10. هم دغه حواله ،مخ ۶۹
11. هم دغه حواله ،مخ ۵۱
12. هم دغه حواله ،مخ ۳۴
13. هم دغه حواله، مخ ۶۹
14. کامل ، دوست محمد خان ، رحمان بابا ، مخ ۳۱۳
15. رحمان بابا دېوان، مخ ۲۲
16. هم دغه حواله ، مخ ۴۸
17. هم دغه حواله ، مخ ۸۳
18. هم دغه حواله ، مخ ۴۸
19. هم دغه حواله ، مخ ۶۴
20. هم دغه حواله ، مخ۱۶
21. ویسه ، سکندر خان، تاریخ افغان غوریاخېل ، اصلي کتب خانه ویسه، چاپ کال ۲۰۰۵، مخ ۲۰
22. رحمان بابا دیوان ، مخ ۱۶
23. هم دغه حواله ، مخ ۵۰
24. کامل، دوست محمد خان، رحمان بابا ، مخ ۳۱۰
25. سائل، خواجه محمد ، د باړې مومند تاریخ، جلد دوم، ماسټر پرنټرز پېښور، ۱۹۹۸ مخ۱۶۳
26. هم دغه اثر،مخ ۱۶۴

27. ويسه ، سکندر خان ، تاريخ افغان غوريا خېل ، ملي کتب خانه ويسا ، ۲۰۰۵، مخ ۹۴
28. هم دغه حواله ، مخ ۹۵
29. خيال بخاري ، رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور ، چاپ ۱۹۹۳ء مخ ۱۵۰
30. هم دغه حواله ، مخ ۲۴۰
31. خيال بخاري ، رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور ، چاپ ۱۹۹۳ء مخ ۱۵۰
32. حبيبي ، علامه عبدالحئي، د پښتو ادب لنډ تاريخ ، دانش خپروندويه ، دريم چاپ ۲۰۱۱ء مخ 59

# په حوالو او کتابيات کښې بنيادي فرق څۀ وي ؟

Ayaz Ullah Tarakzai*

**Abstract:**

Research work is inclined to be referential for better understanding. References are given either in foot notes or in end notes. Both kinds of references are widely used in the research work worldwide. Bibliography is used at the end of the book. References and bibliographies are compulsory used in the academic research work. There are scarcity of books entitled references and bibliography in Pashto literature. This research paper is focusing on the structure of references and bibliographies.

Key words: Citation, Reference, bibliography, foot notes, end notes, parenthetical method.

دَ تحقيق اؤ تنقيد په دې جديد دور کښې دَ حوالې اؤ کتابيات دَ ضرورت او اهميت نه په هيڅ شان انکار نه شي کيدے..

که تحقيق او تنقيد دَ ادب په دنيا کښې دَ يو جسم حېثيت لري نو حوالې او کتابيات ئې دَ ملا تير نه کم نۀ دے اؤ ظاهره خبره ده چې پۀ کوم تن اؤ بدن کښې دَ ملا تير نۀ وي دَ هغۀ تن بدن به څۀ حال وي ، بيا دا هم يؤ

* Mphil Scholars Pashto Academy University of Peshawar

حقیقت دے چې په کوم بدن کښې دَ ملا تیر مضبوط اؤ قوي وي نو هغه جسم به هم مضبوط ګڼلے شي .

زمونږ ادب سره تعلق لرونکي طالب علمانو له پکار دي چې دَ تحقیق اؤ تنقید دا تن بدن دَ حوالو اؤ کتابیاتو پۀ بنیاد ښۀ مضبوط اؤ مستند کړي چې راتلونکي نسل دَ پاره ګټور ثابت شي دَ لیک پۀ دې حصه کښې به دَ حوالې دَ دې قسمونه او دغه رنګ دَ کتابیاتو وضاحت هم دَ حوالو او ګڼو ماخذونو په بنیاد کیږي.

حواله:

"په مختصر طور به دَ حوالې متعلق دومره اووایو چې حواله دَ یو ماخذ بنیادي اطلاع یا اشاره ورکولو ته وئیلے شي۔"1

دَ مثال په طور که څوک دَ ډاکټر پروفېسر سلمي شاهین صاحبې دَ کتاب نه څۀ اقتباس نقل کړي او خپل لیک کښې ئې راوړي نو دَ بعضې بنیادي اطلاع یا اشاره به مونږ داسې ورکوو..

ډاکټر ، پروفېسر، سلمي شاهین ، ۱۹ ، جدید نظم په پښتو کښې ، پښتو اکیډمي پېښور، یونیورسټي ، مخ ، وغېره

دَ حوالو قسمونه

دَ یو ماخذ بنیادي اطلاع یا اشاره مونږ په مختلف طریقو سره ورکوے شو چې دَ هغې څه قسمونه دا دي یعنې:

"(1)Foot Notes
(2)End notes
(3)Parenthetical Methods of reference."2

"دَ حوالو په دې قسمونو او وضاحت ، تشريح باندې په پښتو ژبه کښې څه خاص بنيادي کار نه دے شوے ، صرف ډاکټر سهيل انشا صېب پرې يوه کتابچه غونډې ليکلې ده چې دَ ضرورت او اهميت نه ئې انکار نه شي کيدے۔"3

راځي چې اوس دَ حوالو دَ دې قسمونو مثالونو سره وضاحت وکړو..

(۱) **Foot Notes**:

"**Foot Notes** د حوالې هغه قسم دے چې يو محقق ئې دَ تحقيق دوران کښې پکار راولي ، طريقه ئې دا وي چې کله يو محقق ته دَ مأخذ دَ پاره دَ اطلاع يا اشارې ورکولو ضرورت راپېښ شي نو بيا محقق دَ پاڼې په ويخ کښې دَ حوالې په شکل دَ خپل ماخذ متعلق اطلاعات او اشارات راوړي چې هغه ته مونږ وئيلے شو.. دَ حواله جات په دنيا کښې دا قسمه طريقه دَ ډېر پخوا نه رائج ده ، زياتر علماء طبقه دې قسمه طريقې له ترجيح ورکوي ، دَ هغې بنيادي وجه دا وي چې دَ لوستونکي فکر او سوچ کښې خلل نۀ راځي او دَ کتاب په يو مخ لوستونکي ته هر څۀ ملاو شي۔"4

دَ مثال په طور دَ ډاکټر نګاه حسېن نګاه کتاب نه يو اقتباس يا څه خبره نقل شوه نو دَ متن هم په هغه مخ دَ پاڼې په ويخ به داسې حواله ورکړې يعني:

ډاکټر نګاه حُسېن نګاه ۲۰۱۵ء قلندر دَ بډه بېرې تحقيق او تنقيد عنايت پرتېر جنګي محله پېښور ، مخ ۱۰ وغېره..

دَ **Foot Notes** اندازدَ مختلف محققينو مختلف وي ، بعضې محققين مختصر او بعضې تفصيل نګارۍ نه کار اخلي ، په دې کښې بعضې محققين مضبوطې او بعضې کمزوري حوالې هم راوړي يعنې بعضې محققين داسې ليکي:

"*قلندر دَ بډه بېرې ، مخ ۲۰

*ډاکټرنګاه حُسېن نګاه، قلندر دَ بډه بېرې مخ، ۲۰

*ډاکټر نګاه حُسېن نګاه، قلندر دَ بډه بېرې

*ډاکټر نګاه حُسېن نګاه ، قلندر دَ بډه بېرې ، عنايت پرتېرجنګي محله پېښور، مخ ۲۰"5

په دې انداز دا هم **Foot Notes** دي په دې کښې دَ ماخذ څه نه څه اطلاع او اشاره شته دے خو دې ته مونږ کمزوري **Foot Notes** وايو ځکه چې په دې کښې دَ ماخذ متعلق معلومات په مکمل ډول نه دي ځائے کړے شوي ،که مونږ مضبوط **Foot Notes** ګورونو دَ دې متعلقه ماخذ مضبوط **Foot Notes** به دا رنګ وي

"*ډاکټر نګاه حسېن نګاه،۲۰۱۵ء،قلندر دَ بډه بېرې تحقيق او تنقيد ،عنايت پرتېر جنګي محله پېښور،مخ ۲۰۔"6

(۲) **End , Notes** ترابئن:

**End , Notes** ته ترابئن ستائل هم وئيلے شي ، دا قسمه ستائل په اوږده او لنډه دواړه قسمه مقالو کښې پکارراځي ، طريقه کار ئې څه په دې ډول ده چې يو باب کښې دَ هر څومره ماخذونو ذکر وشي دَ هغه ټولو

ماخذونو اطلاع او شماره دَ نمبرو سيريل ويز انداز باندې په آخره کښې ورکړے کېږي دَ مثال په طور دَ مقالې په يو باب کښې دَ شلو ماخذونو نه حوالې اخستے شوي دي نو دَ باب په آخر کښې به هغه حوالې څه په دې ډول راځي يعني :

(۱)اجمل خټک ، ۲۰۰۳ء "قصه زما دَ ادبي ژوند " اوله برخه، مخ ۲۱۲..

(۲)کليات رحمان بابا ۱۹۹۰ء ، محکمه ثقافت صوبه سرحد ، مخ ۷۹ ، هم په داسې انداز به سريل ويز "۲۰" پورې چلېږي ، دا نمبرې به دَ باب په متن کښې هم په دې انداز راغلي وي ، بيا چې متن کښې چاته کم نمبر حواله کتل وي نو دَ نمبر حساب سره به دَ باب آخير ته راځي او هغه نمبر مطابق به ئې ګوري ..

(۳)Parenthetical Methods of reference: ليندواله

دې قسمه طريقې ته په پښتو ژبه کښې ليندواله طريقه دَ حوالې هم وائي ، دا قسمه طريقه دَ حوالې په شکل يورپ کښې ډېره عام ده خو په مشرق کښې ډېر کمو اديبانو په طريقه خپل تحقيقونه سر ته رسولي دي ، زما دَ نظره چې کوم ليکونه دلته په دې طريقه ليکلے شوي دي او تير دي هغه دَ مجاور احمد زيار صيب پښتانه دَ ژبپوهني په رڼا کښې ، او دَ ډاکټر شکيل احمد ليک .Pakistan languages and politics

دَ Parenthetical Mathodsځان له درې قسمونه دي: يعنې

**(a)Author- date system**
**(b) Number System**
**(c) Complete citation in the text. (6).**

راځې چې اوس دَ دې مختصر وضاحت وکړو.

(a)ليکوال نېټه جوړښتAuthor- date system

که دَ دستاویزنګارۍ په فهرست نظرواچولے شي او نمبر ته پاملرنه وشي او اوس دي نه دَ یوې حوالې ضرورت پېښ شي نو دا به په بریکټ کښې داسې لیکل کېږي

په سهېلي پښتونخوا کښې پښتو مشاعره لومړي پلا د اکبر خان اڅکزي په استقلال پرویژن سټور نومي دوکان کښې دَ یوې شپې تر صدارت لاندې وشوه ( کاکړ ۱۹۸۱ء، ۳۴ )

"یعنې دا عبارت دَ کاکړ (سیال کاکړ ) دَ ۱۹۸۱ء دَ چاپ کتاب ۳۴ م نمبر مخ نه واخستلے شوه ، دلته په متن کښې دَ حوالې انداز بدل دے نه واوین ضرورت شته او نه دَ وړومبۍ کرښې په سر کښې ګس طرف ته دَ لوکوټې زیات ځائے پرېښودلو ضرورت شته بله دا چې فانټ به نرے وي او لکه دَ عام لیک به تر اخیره پورې یو شان روان وي ، په دې کښې ټولو کښې ضروري خبره دا ده چې فل سټاپ به د وشوه نه پس نه بلکې دَ لیندیو نه پس لګي لکه چې بره هم داسې شوے دے۔"7

(b) شمیر جوړښت: **Author- date system**

دَ شمیر جوړښت طریقه کښې به متن کښې څه په دې ډول وي لکه بره چې کومه حواله تیره شوه هغه به دَ **Author- date system** کښې داسې راځي یعني:

(کاکړ۱۹۸۱ء،۳۴) په ځائے به (۳۴:۱ ) راځي یعنې د اثر نمبر ۱، ۳۴ نمبر مخ

(c)بشپړه متني حواله **Complete citation in the text:**

په دې قسمه طريقه کښې به مکمل په متن کښې دَ ماخذ حواله وړاندې کيږي يعني دَ مثال په طور مونږ دَ ډاکټر سلمي شاهين کتاب ته يا دَ ډاکټر نګاه حسين نګاه کتاب نه حوالې واخستے نو هغه به مونږ دَ بشپړه متني حواله کښې داسې راوړو

ډاکټر سلمي شاهين (۱۹) جديد نظم په پښتو کښې ، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورستي، مخ، ۱۰

ډاکټر نګاه حسين نګاه، ۲۰۱۵ ، قلندر دَ بډه بېړې، تحقيقي او تنقيدي جاج ، عنايت پرنټر جنګي محله پېښور ، مخ ، ۲۰

درې واړه طريقې تاسو وکتې چې دوئم نمبر ډېره اسانه او درئم نمبر ډېره لويه ده ، زما په خيال که يو محقق دَ خپل تحقيق دوران کښې **Parenthetical Method**نه دَ **Author- date system** طريقه خپله کړي نو کار به ئې ډېر جامع انداز کښې راځي

"کتابيات"

په دې ليک کښې چې دَ حوالو متعلق او دَ هغې قسمونو متعلق څومره بحث اوشي دَ دې ټولو حوالو دَ پاره کتابيات جوړول ضروري دي ، بعضې محققين دَ **Foot notes**او **End notes** دَ پاره کتابيات جوړول ضروري نه ګڼي ، هغي وائي کتابيات صرف او صرف دَ **Parenthetical Method** دَ پاره جوړول ضروري دي ځکه چې په : **Author- date system** او**Number System** کښې ډېر څيزونه کتابيات ته پاتيږي ..

"هسې خو دَ حوالې او کتابياتو ډېر بنيادي فرقونه موجود
او ښکاره دي خو دَ ټولو نه ضروري خبره او هغه دا ده چې
کتابيات به دَ حروف تهجي په بنياد جوړيږي او دوئم دا
چې په کتابيات کښې کوم کوم ماخذونه راوړل شي دَ

هغې مخ نمبر به په کتابیات کښې نه وي او نه به سیریل
ویز نمبرز ورکړل کېږي۔"8

دلته دَ فرضي کتابیات یو مختصر غوندې لیسټ ورکول ضروري ګڼم :

"*افضل خان خټک ۱۸۷۳ء تاریخ مرصع ، ترتیب او تدوین دوست محمد کامل ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور..

*دوست محمد کامل مومند، ۱۹۶۷ء "رحمان بابا ، تاریخ علمي او ادبي جاج " اداره فروغ اشاعت سرحد پېښور ..

*راج ولي شاه خټک ، ډاکټر "دَ رحمان په شعر " پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ..

*سلمي شاهین ، ډاکټر ، جدید نظم په پښتو کښې ، پښتو اکیډمي پېښور یونیورسټي ..

*فېروزالدین ، ۲۰۰۵ء ، فېروز اللغات اردو جامع کلفټن روډ کراچي..

*محمد هوتک ۱۹۶۰ء پټه خزانه ، دَ پوهنې وزارت افغانستان ..

*نګاه حسېن نګاه ، ۱۹۱۶ء مجبور سوراني دَ خپل فن په آئنیه کښې تحقیق او تنقید ، اسد پرنټر جنګي محله پېښور۔"9

تاسو وکتل چې دَ کتابیاتو دَ پاره مخصوص خپلې سیرل ویز نمبرز نشته ، ترتیب ئې دَ حروفِ تهجي مطابق دے یعنې دَ "د" نه وړومبي ماخذ

شروع دے بیا وروستو دَ "ر" حروف نه شروع کیدونکے نوم راغلے دے دغه رنګ "ر" نه پس "س" "ف" او "ن" نه شروع شوي نومونه راغلي دي ..
دَ هر تحقیق په کار کښې په آخیره کښې کتابیات ورکول ډېر ضروري څیز دے ، دا دَ ادب او تحقیق طالب علمانو ته ډېري اساني په لاس ورکوي ، او څوک هم چې په متعلقه موضوع کار کوي دَ هغې مخې ته ډېر ګټور مواد او معلومات مخې ته راشي ..

> "دلته دا خبره یاد ساتل ضروري دي چې چرته هم په آخیره کښې کتابیات ورکړے شوي وي په هغې کښې به دَ متعلقه ماخذ مخ نمبر نه وي که چرې یو محقق په کتابیات کښې دَ ماخذ مخ نمبر ورکړو نو بیا هغې ته مونږ کتابیات نه بلکه حواله وایو ، اکثر محققین په حوالو او کتابیات کښې فرق نه کوي۔"10

# حوالې

1. چند ،ډاکټر ګیان ، تحقیق کافن ، مقتدره اداره اسلام آباد ، ص:۲۳
2. انشا ، ډاکټر میا سهېل،۲۰۰۹ء تحقیقي دستاویز نګاري ، یونیورسټي پبلشرز ، پېښور مخ ۳۸
3. انشاډاکټر میا سهیل ، ۲۰۰۹ء تحقیقي دستاویزنګاري یونیورسټي پبلشرز، متن
4. چند ، ډاکټر ګیان ، تحقیق کا فن ، ص، ۱۲۰
5. نګاه ، ډاکټر نګاه حُسېن ، "دَ حوالې او کتابیات پېژندنه" مختصر مقاله ناچاپ
6. انشاء ډاکټر میا سهېل ، تحقیقي دستاویزنګاري یونیورسټي پبلشرز، مخ ۳۸
7. هم دغه اثر ، مخ ۳۸، ۳۹
8. چند ، ډاکټر ګیان ، تحقیق کا فن ، ص ۱۰۱
9. خټک ، ډاکټر راج ولي شاه ، ۱۹۸۹ء ادبي تحریکونه، پي ایچ ډي مقاله ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي دَ مقالې آخري باب او کتابیات دغه رنګ وګورئ ، نګاه ، ډاکټر نګاه حسېن ، دَ پېښور مومند او په پي ایچ ډي مقاله ناچاپ آخري کتابیات ..
10. دَ دې قسمه غلطۍ دَ پاره وګورئ ،احمد ، رشید ۲۰۱۶ء "پښتو ناول سل کاله" په دې مقاله کښې حوالې او کتابیات خپلو کښې ګډوډ کړے شوي دي ، چې په واضح ډول تري دَ تحقیق طریقه کار مطابق کمزوري او کمي واضح ده..

# وزن (وزم) او آهنګ

پروفيسر ډاکټر لعل پاچا ازمون *

**Abstracts** :

In this writing it became clear that rhythm and song differs. Both are basic items of poem. Pashto poem structure is iambic and stressed; the iambic poem balances the rhythm and orchestrates song with iambic tone and stress. We cannot produce rhythm only with the iambic lines rather the iambic orchestration produces caesura and caesura produces a hemistich, and its combination produces song. Stress produces fixed-rhymes. Each fixed-rhyme's rhythm is set with tone and stress. Rhythm is the organized repetition of sounds, composition-articulator and moral value that exerts indication and effect. Sounds can be seen in words and body language. Rhythm sets different forms of song; these forms are done with the number of hemistiches, fixed-rhymes and song. One thing that rhythm does is: it turns language from usual, it becomes poetic, and it holds a special rhythm and song. In a couplet rhythm lines one hemistich with other according to the number of words, but in song the hemistiches goes according to the orchestration of repetition of

* استاد پښتو څانګه ننګرهار پوهنتون جلال آباد، کابل

words that paves the arrangement of music. For rhythm song is an important thing. Song is the mixture or remix of words in a poem which balances rhythm and music of poem with tone.

دا دواړه توکي يو له بله سره لغوي او اصطلاحي توپير لري. وزن د نظم او نثر ترمنځ برید ټاکي، خو اهنګ په دواړو کښې کمي او کيفي ارزښت لري. د نظم اهنګ د نثر له آهنګ سره د غږ د کيفيت او جوړښت له مخې توپير لري.
په نظم کښې آهنګ د موزون لړ غږونه سره په خج او لحن منسج موي.په نثر کښې بيا آهنګ غږونه د نحوي جوړښت له مخې داسې سره په غږيز کيفيت تړي چې د فقرو، جملو او ترکيبونو کيفيت او جوړښت ښيي.له دې ليکنې نه زما موخه دا ده: دا بايد څرګنده شي چې وزن او آهنګ د نظم په برخه يو له بله سره توپير لري. د څومره والي او څرګنوالي له مخې د نظم په جوړښت او ارزښت کښې ددغو دواړو توکيو ونډه څه ده؟ د يوې موزونې او ناموزنې وينا چې يوه معنا ولري، ارزښت په څه کښې دي. وزن او اهنګ د غږونو، کلمو او ترکيبونو په رامنځته کېدو او ارزښت کښې ځانته ځانګړنه لري.

اصله موضوع:
تردا مهاله د وزن او آهنګ توپير هم نۀ کېدۀ، لۀ نثر سره د نظم بېلښت په وزن کېدۀ او اهنګ د دواړو لپاره اړين توکي دي. اوس کۀ د وزن خبره کوو، نو اهنګ هم يو ضروري يا اړين توکي دي چې وروسته به يې کارولو او ارزښت خبرې وشي .دنظم بنسټ په وزن او اهنګ ولاړ دي، لومړي بايد وزن او آهنګ وپېژنو، دا هم بايد جوته کړو چې دغه دواړه

نومونه یو لهٔ بله سره توپیر لري او کهٔ په یو هم اناکارو لګېږي؟ د دغو نومونو ځرګندولو ته راځو:

"زاهد پښتو پښتو سیند اهنګ داسې راپېژني: ((اواز-غږ، غاړه، داوازوزن، تکل، اراده،)) دود اوطریقه)) لیکي)"1

"د وزن مانا بیا: ((تول،اندازه،د عروضو په علم کښې د شعر بحر)) ښيي."2

"ظفراللغات بیا آهنګ دا ډول راپېژني :((غاړه، ګانې کښې الاپ، تکل، من، قصدو اراده، د ګنبد او محراب کوږېدل، ژی، څنډه، کناره، صف، کتار)) لیکي))"3

"وزن بیا داسې راپېژني: ((اندازه، عزت، قدروقیمت، مقدار، پیمان، علم عروض شعر کي بحر))"4

"پښتو لغت دریاب هم آهنګ له نور قاموسونو سره په ورته مانا راپېژني: ((قصدو اراده، تکل، غاړه، اواز، غږ))"5

"وزن : ((تول، اندازه، برابري، په علم عروض کښې د شعر بحر)) پښتو قاموس بیا وزم لیکي او مانا یې : ((آهنګ، زنګ، چهره و قیافه))

د ژب پوهنې استاد اناو څېړونکي بیا آهنګ د زیروبم یوه بڼه بولي : ((کله چې د ګړهار په بهیر یا اوږدو کښې د زیروبمي د پراختیا لمن د غونډلې (جملې) په اندازه وي، هغه زیروبمي اهنګ بلل کېږي .آهنګ په پښتو کښې ژبني ارزښت لري .د ساري په توګه خبري او ناخبري

غونډلې (جملې) سره توپير وي. د خبري هغه آهنګ ولېدونکي او د پوښتنې هغه جګېدونکي...دي))"6

په انګليسي قاموسونو کښې د آهنګ لپاره دRhythm نوم ليکل شوي دے چې مانا يې ((وزن، سجع، تال، موسېقي، نڅا او... کښې د قوي او کمزورو فشارونو، ږغونو يا حرکاتو منظم تواتر، د پېښو، عمليو او... منظم تکرار)) انګليسي خو وزن ته بيا Meter ليکي. ((وزن (په شعر کښې)، بحر)) وزن يا ميټر د لفظونو يا کلمو ليکه يا لايندي، دلته مو لهٔ کلمو يا لفظونو نه مو خه څپه ده، دې ليکې ته چې لهٔ څپو څخه برابرې رېمې سره وايو.

په مصرع کښې دغږنوترمنځ آهنګين تړاو چې څپې سره په زيروبمې، غږجګوالي اوټيټوالي، تول په خج تړي اومصرعې ته حرکت ورکوي، آهنګ دے نوداسې ويلې شو چې دنظم آهنګ په خج برابرېږي. مصرع لهٔ رکنه جوړېږي، رکن بيالهٔ څپو برابرېږي.د رکنونو لهٔ مخې بحرونه ټاکل کېږي..

وزن زموږ ساده خبرې هم وزن لري،دلته وزن په څوماناووکاروو. وزن ددرنښت، تاکيداوارزښت په مانا: وايوخبره کښې يې وزن دي. دلته وزن ددرونوالي اوارزښت په مانادي. وزن دتول په مانا.

وزن يې څومره دے؟ اندازه يا تول ښيو.

وزن ددرنښت په مانا: په ناسته ولاړه اوخبروکښې يې وزن شته.

وزن دغږونو ترمنځي واوډون او ترتيب چې دموسېقۍ د آلولهٔ لارې راڅرګندېږي، ترنم جوړوي، اودادغږونولهٔ زيروبمۍ،جګوالي اوټيټوالي ښه مومي.

وزن د نظم لپاره:

"هغه چې خبرې یا کلمې او غږونه پرې په یولړ کښې پېيل کېږي او بيا نورلړونه سره په يوه اندازه اوکچ مېچ راولي، دا کار څپه کوي، څپې رکن جوړوي اورکن مصرع جوړوي، مصرع په خج بحرتاکي.نو رکنونه د مصرعو ترمنځ دڅپې پربنسټ وزن جوړوي. د غږونوترمنځ د برابرو ( مساوي) فاصلو ساتلوته وزن کولو اي يا وهر هغه متحده يا ته چې دَ هرې برخې د پله پسې ږغونو لۀ مجموعې تلفظ څخه لاس ته راځي ( وزن) دي.))"7

غږ يوازې په توريوکښې نه بلکې د حيواناتو او انسان په حرکاتو کښې هم شته.

د انسان اساطيري ژوند لۀ وزنه ډک دي. انسان په موزون غږ لۀ حيواناتو سره غږېږي او حرکت کوي. په شپېلۍ څاروي او مارغان ځانته رابولي او يا يې پيا يي .

د موسيقۍ آلې هم لۀ وزنه ښه مومي. دغه وزن د زړۀ لۀ حرکت سره سم حرکت کوي او ښه مومي.

ځينې غږونه چې بد لګي، لامل يې دا دے چې حرکت يې د زړۀ لۀ حرکت سره برابر نۀ دے. د غږونو لۀ پورته کېدو آهنګ رامنځ ته کېږي.
دا غږ ممکن د لاسونو لۀ ټکاري او يا په يو څيز د لاس فشار لۀ امله رامنځ ته شي. د لاسونو ټکار، د پښو درباري او اند سترګو حرکت آهنګ رامنځ ته کوي.

استاد رشاد د غږونو د منسجم تکرار لۀ امله وزن په دوو برخو ويشلي دي:

۱ -مطلق وزن:

داسې وزن چې د معنی لرونکو ږغونو له وجوده څخه بې نیازه وي، مطلق وزن بلل کېږي. .. لکه راګ، رېز، شپېلکۍ.

۲ -مقید وزن:

"((کوم وزن چې له معني لرونکو ږغونو څخه جوړ شوي وي، هغه ته بیا (مقید وزن) وايي چې شیخ الرئیس یې د (شعري ایقاع) په نامه یادوي او زموږ د څېړنې موضوع هم دلته دغه مقید وزن یا شعري ایقاع ده.))"8

ځینې کلمې له غږونو داسې اوډل شوي دي چې هغه حقیقي یا طبیعي وزن لري. ځینې بیا د نظم په خاطر یا اوږدېږي او یا لنډې ویل کېږي. دا مجازي کلمې دي. دغه کلمې د خج په واسطه بڼه مومي. مثلا مونږ د دې لپاره چې یو خبره موزو نه کړو او مصرعه په وزن وتړو، نو پر یو شمېر بېمانا غږونو یې وزن برابرو: ( نانا ،واي واي،اوهو اوهو) او یا یې د وزن په خاطر د ربط توري راوړو: چې،خو،او،نو...

موزون غږونه د انسان په حواسو او عواطفو اغېزمن دي. د بیم موزون غږ ماران په نڅاراولي. د ډول غږ د پښتنانهٔ زلمي حواس راپاروي او ولي یې غورځولو ته هڅوي. ((د ډالهٔ غږ چې جګ سي د ختک اوږې په غورځېدلو شي .

یعنې غاړې په اورېدونکو قیصو زمومي او له سترګو یې اوښکې رابهوي. او داسې نور...

د دې سبب دا دے چې له موزونو ږغونو څخه زړهٔ خوند مومي او د داسې خاصو خوندونو ادراک چې ذوق بلل کېږي، د انساني فطرت جز دے او حتي په ځینو حېواناتو کښې هم دا ذوق شته. لکه: پیل، ګوریلا

او چمپانزي ( د افریقا دو هرازه بیزوګاني) اوښان،هوسۍ،او داسې نور...

"په مقید وزن( شعري لحن) کښې ایقاعي لحن د مخې لۀ حال په محاکات او د مطلوب اثر په تهیه کښې د الفاظو لۀ معناوو سره مرسته کوي او دا سبب وۀ چې په زاړۀ یونان کښې سربېره په دې چې نظمونه په ترنم سره لوستل کېدل، د سرود یوه آله به هم ورسره ږغوله کېدله، تر دې چې د لرغوني یونان په د روډولو نظمونو کښې د لیریک (عشقي) نظم نوم د سرود لۀ یوې آلې څخه راوتلي دي چې (لیره) نومېدله...)"[9]

وزن د غږونو اوډون (ښپیل،تړښت،په زیرو بمې، جګوالي او ټيټوالي او خج ) دي.

## آهنګ:

آریانا دایرة المعارف تر یادوشویو قاموسونو آهنګ او وزن بیا لږ څۀ په جزیاتو راپېژني: د ترکیبونو لۀ ادا کولو څخه عبارت ده .البته دهغه په ځانګړي موسیقت سره. یعنې داچې په پښتواودري ژبه کښې په ټاکلو مواردوکښې ویناوې .عبارتونه، فقرې اوجملې په مشخص اوځانګړي طرزسره بیانیږي .لۀ همدې امله کېداي شي د جملو او فقر و خاص آهنګ وي، خو هره کلمه اوترکیب هم خپل خاص آهنګ لري. یاپه بله ژبه آهنګ دمیلودي،ریتم (ردهم) او د عروضو غږونو موسیقیت په شدیده یاخفیفه توګه یوځاي کېدل دي چې په ژبه کښې بېلابېلې نحوي، حسابي اوهیجاني معناوې افاده کوي اوددې عروضي عناصرو

هر يو مرکب(component) ته آهنګ ويل کېږي دا مرکبونه په لاندې توګه دي:

۱:ميلودي دَ اساسي توند آواز حرکت (ټيټېدل او لوړېدل) دي او هغه وينا چې په عبارتونو ويشلې وي. هر عبارت يې ځانګړې ميلودي لري. البته هغه عبارتونه چې خبري معناافاده کوي په ټيټ آهنګ سره ويل کېږي،مثلاًعبدالله راغے .هغه چې پوښتنيزه معناافاده کوي په لوړآهنګ سره ويل کېږي، مثلاً عبدالله راغے؟ همدارنګه تعجب ياونداييي جملې اوعبارات په موازي اهنګ سره بيانېږي .لکه عبدالله راغے. په پښتو او دري ژبه کښې هم دا درې درجې آهنګونه شته او ميلودي دَ هغو د ډېرو اړينو ترکيبي اجزاووڅخه شمېرل کېږي.

"ژبپوهانو آهنګ د زيروبمے يو ډول بللي او (( هغه چار، عمليې ته وايي چې د ژبنيوتوکونوپه لړکښې يوترکيب په زيات زوراوشدت وويل شي ياپه بله ويناقشاردزېږيدلۀ پلوه د هوا په فشار د بدلون د ځانګړتيا وو لۀ ترکيب د زيروبمے د کچې يا دا چې له توپير او په خپلواکيز (واولي) راکښونکې لۀ توپير څخه منځ ته راځي او داورېدنګ لۀ پلوه زيات رساوالي ته وايي . ))"10

وزن د نظم بېلا بېل فورمونه ټاکي، دغه فورمونه د مصرعو د شمېر، بحرونو، او آهنګ لۀ مخې کېږي. دوزن يوه دنده اوارزښت دا دے چې ژبه لۀ عادي حالته اړ وي، لفظونوته يوداسې خونداورنګ ورکوي چې په لوستونکي اغېز وښندي، د هغۀ حواس او تخيل راوپاروي،نوکله چې خبره لۀ عادي حالته ناعادي حالت ته ووته،ژبه شاعرانه کېږي. يوخاص وزن او آهنګ مومي.

وزن په بیت کښې د لفظونو د شمېر په بنسټ یوه مصرع لۀ بلې سره تړي خوآهنګ بیا په مصرعوکښې دَ لفظونو ترمنځ یوه لۀ بله سره د غږونو منظم او منسجم تکرار دے چې همغږي یې موسیقي رامنځته کوي. دوزن لپاره آهنګ هم یوضروري توکے دي.

آهنګ د مصرعو د بیان یاویلویوه طریقه ده چې زیاتره مهال په ویلوکښې محسوسېږي. یوشمېرکسان نظم داسې لولي چې په ویناکښې د آهنګ خیال نۀ ساتي،نو په لوي لاس نظم بې خونده،بې رنګه اوبې وزنه کوي.

لنډه داچې آهنګ دغږونو یوداسې ترکیب اواوډون دے چې جګ والي ټيټوالي اوزیروبمي بڼه ورکوي، د لفظونو تر منځ یو پټ شور دے چې حرکت یې محسوسېږي..

آهنګ په نظم کښې د لفظونوترمنځ یوغږیزامتزاجي ګډمنظم ترکیب دے چې په خج د نظم وزن اوموسیقي برابروي. هرغږځانته یوځانګړے آهنګ لري .د هر لفظ موسیقي په آهنګ برابرېږي.دلفظونوترمنځ ترتیب هم آهنګ برابر وي او په یو داسې مزي یې تړي چې شوریې ځانګړې موسېقي رامنځ ته کوي.کله ناکله چې ځینې لفظونه ښۀ نۀ لګي، یو ازینې لامل یې ناسم آهنګي ناوډون دے. دتوري وتکراراویولۀ بله سره یې غاړه غړې‌کول په آهنګي مزي دَ وینا موسېقي رامنځ ته کوي.

دځینولفظونوترشا متحرک انځورونه دي .دغه انځورونه یوشوراوحرکت لري چې همدغه حرکت یوځانګړے آهنګ لري.بېلګه (نمونه) یې مونږ شرشره یادوو: په شرشره کښې د (ش) او (ر) تکرار یو آهنګ او یوه ځانګړې موسېقي لري. د دې ترشا په خپله دشرشرې غږیزانځوریوه بېله موسیقي اوآهنګ ذهن ته لېږدوي.ځینې لفظونه بیابدرنګ،ذهن اوزړۀ بدوونکي آهنګونه لري چې تر شا یې د کرکښې اوجنګ انځورونه دي.

لکه ډز، ډم، ګړزاري، درزاو... لکه څومره چې آهنګ په نظم کښې د ارزښت او زياتې توجه وړدي همدومره په نثرکښې هم ارزښت لري .دکلمو،ترکيبونواوجملوپه رغښت اومعنوي خواووکښې دادلون بدلون لامل کېږي.

پوښتنه په يوۀ آهنګ اوبيانيه جمله په بېل آهنګ کښو وړاندې کېږي:
احمدراغے.له تيټ څخه پورته اواحمدراغے؟ لۀ جګ څخه تيټ ته آهنګ لري. دلته په نوم يعني احمدباندې خج په دويمه څپه او په (راغے) فعل باندې خج په لومړۍ څپه زمونږ د جملې آهنګ برابروي او جمله سواليه کوي، کۀ په فعل سپک خج راشي، نو جمله بيانيه کېږي .

آهنګ په حواسواواحساساتوهم اغېزکوي اومعنوي بدلون هم پېښوي.
دلته دوه ډوله آهنګ پېژنو:

يو د موسيقۍ د آلاتو يا د بېلا بېلو څيزونو د شور آهنګ دے او بل لفظي،کلمه يي او غږيز آهنګ دے چې د توريو او کلماتو لۀ اوډون اوامتزاج څخه رامنځ ته کېږي .

د نظم داخلي او بهرنۍ موسيقي هم د آهنګ په بنسټ رامنځ ته کېږي.اوس نو دا ويلي شو چې:

په نظم کښې د لفظونو او يا څپيز خجيز جوړښت لۀ آهنګي ناوډون او امتزاجه وزن رامنځ ته کېږي.

يوازې د سېلابونو شمېر د وزن دپاره کافي نۀ دے داڅۀ بل داسې شے هم غواړي چې لۀ سېلابونو سره يې يو ځاي کړو او وزن ترې راباسو او دغه شے دے ((آهنګ(Rhythm))سېلابيز جوړښت بحر ټاکي .دولس څپيز،ديارلس څپيز او... د مصرعو بېلا بېل بحرونه دي،خو سېلابيز جوړښت په آهنګ وزن مومي.

څـو تـنـې لا د ګرېوانـۀ پـاتې دي
ستا پـه زړۀ کښـې وحشـتـه څـۀ پاتې دي

د د غه بيت دواړه مصرعې د څپو د شمېر لۀ مخې برابرې دي. يعنې بحر يې يولس څپيز دي، خو د څپو ترمنځ يې آهنګين تناسب يا اوډون نۀ شته. په خج برابر نۀ دي. د دې بيت په لومړۍ مصرع کښې خج په دريمې څپې (نې) او پنځمې څپې (نه) او دويمه مصرع کښې په لومړۍ (ستا) اوومې څپې (څۀ) په ړوتي د خج هم دې نا منظمالي د نظم آهنګ او وزن خراب کړي دي، په غوړونو نا منظم لګي او د لفظونو تر منځ يې يو منظم او منسجم تړاونشته.

د يولس څپيز بحر په غزل کښې د آهنګ لۀ مخې خج د هرې مصرعې په څلورمې او اتمې څپې لوېږي. اوس هم دا بيت پرته د کوم سېلاب لۀ زياتوالي ياکموالي په دې آهنګ د خج په بنسټ برابر وو.

"لا څـو تـنـې د ګرېوانـۀ پـاتې دي
وحشـتـه سـتاپه زړۀ کښـې څـۀ پـاتې دي"11

په دې بيت کښې په لومړۍ او دويمه مصرع کښې خج په يو برابر په څلورمې او اتمې څپې پرېوتي چې د آهنګ لۀ مخې يې وزن هم برابرشوي دي. د مصرعې د هر رکن څلورمه څپه خج نۀ ده.

آهنګ په دوو برخو ويشو:

۱ :لفظي يا کلمه يي آهنګ:

هغه آهنګ دي چې د بيتونو د لفظونو ترمنځ غږيز انسجام برابر وي، يا لفظونه سره د غږنو او ناغږنو توريو په آهنګين مزي تړي چې دا برخه يې د کلامتون، رکن، بحرونه، مصرعې، آهنګ او وزن برابروي. کلمه

يې توازن چې په هغه کښې کلمې تکرارېږي، د کلمو تکرار په خپله د کلام يا وينا موسيقي برابر وي:

"زما د اوښکو څاڅکې دے، جهان دي،نور څۀ نۀ شته
باران دے او باران دے او باران دے، نور څۀ نۀ شته
کوو يې،کۀ هر څو د مستې مينې په سودا کښې تاوان
دے او تاوان دے او تاوان دے، نور څه نه شته کۀ زۀ
ورځنې ژاړم او کۀ زۀ ورپسې ژاړم جانان دي او جانان
دے او جانان دے، نور څۀ نۀ شته زما په شان به تۀ هم
يو وخت وايې چې په ژوند کښې ارمان دے او ارمان
دے او آرمان دے، نور څۀ نۀ شته درويشه! چې دا دوه
جهانه دواړه پرې روښان دي قرآن دے او قرآن دے او
قرآن دے، نور څۀ نۀ شته۔"12

په دې غزل کښې د باران، تاوان، جانان، ارمان او قران د کلمو درې درې ځلې تکرار او ورسره د جهان، شان، روښان تکرار او همدا رنګ د رديف تکرار هغه ترکيبونه او کلمې دي چې د نظم معنوي او لفظي ښايست او آهنګ يې برابر کړے دے. د دغه پنځلس څپيز غزلوينګ څپه څپه آهنګ داسې برابر کړي چې تر قافيې پورې يوه د مه لري، قافيه او رديف بيا بله داسې برخه برخه څپه څپه آهنګ برابروي چې په ويلو سره يې غږيز غړي په شور او څپو راځي. لۀ ټيټ آهنګه راپيلېږي او هم داسې څپه څپه لوړېږي او ټيټېږي. درې بشپړ او وروستيني مګړي رکن لري،د هر رکن دويمه څپه يې خج نۀ ده.

غږيز آهنګ:

هغه آهنګ دے چې د غږونو لهٔ حرکت، د غږ ټيټوالي او جګوالي، فشار او زيروبمې ښه مومي. دا برخه يو څهٔ نوره څېړنه هم غواړي، هڅه کوو چې د موسيقۍ په څېر ورته شکلونه پيدا کړو. دا برخه د کلام په لفظي او معنوي جوړښت کښې ډېره مهمه ده.

بل مونږ څنګه کولاې شو چې په يوه بيت يا مصرع کښې موسيقي لټښه وارزووو؟ ځواب دا دے چې د نظم په موسيقۍ کښې کهٔ يوه مصرع يا بيت را اخلو نو لومړي يې د څپو آهنګينه برخه شمېرو، بيا په مصرع، بيت او يا ټول نظم کښې د غږونو او کلمو ترمنځ توازن او هم غږې برخه شمېرو، نو د غږونو او څپو لهٔ تکراره موسيقي زېږي.

خـورې دي غلـې غلـې اوازې چـې تـهٔ راځـې
د زړهٔ دي درتـه ښېرتـه دروازې چـې تـهٔ راځـې

په دې بيت کښې لومړے د څپو د همغږۍ تکرار ګورو:

خو/رې/ دي/ غ/لې/ غ/ لې/ ا/وا/زې/ چې/ تهٔ/ را/ ځې

د/ زړه/ دي/ در/ ته/ ښې/رته/ در/ وا/زې/ چې/ تهٔ/ را/ ځې

لومړي هجاوې: دي،

غ/لې،ځې،زې،چې،تهٔ،ه،را،در،دلته همغږي په څپو کښې ده چې دوه دوه ځلې تکرار شوي دي .

د هرې څپې په پاي کښې بيا د غږونو ترمنځه همغږي موسيقي برابروي. په دې بيت کښې نشته، مثلاً: کار ،بار دواړه يو څپيز دي، د هم غږې غږيزه برخه يې (ار) دي .

دغه ډول څپيز غږيز تړون ته د څپو او غږونو ترمنځ توازن وايي، يعنې غږيز توازن. غلې غلې يې کلمه يې موسيقي برابروي.

د وزن او آهنګ ارزښت او کېفيت:
وزن ترنم دے، ترنم لۀ غږونو او حرکاتو ښه مومي.
کله چې د غږونو او حرکاتو منظم تکرار رامنځته شي، نو وزن پيدا کوي او لۀ دغه وزنه آهنګ او موسيقي ښه مومي. کله چې غږونه او ياحرکات ګډ وډ شي، نو وزن بايلي، دلته وزن معنوي او مادي ارزښت ښيي.
د زړه حرکت وزن او آهنګ لري، دغه حرکت د وجود نظم برابروي او د ژوند چينه وي.کله چې دا حرکت له لارې اوړي او ګډ وډېږي، نو د ژوند چينې ته راوتي لښتي (رګونه) په مورګو اوړي او وزن بايلي. ژوند د مرګ کومي ته ځي،. حرکت درېږي .خبره چې خوږلني پيد اکوي: وزن په کښې وي. کوم وزن؟ ارزښت او حرکت د خبرې حرکت د لفظونو يا غږونو لۀ عاطفي تړښت رامنځ ته کېږي .عاطفه د زړۀ غږ دي. دغه غږ نېغ په نېغه د اورېدونکي د زړۀ لۀ حرکت سره پيوندېږي يا په يوه لاره سره منظم حرکت کوي، نو دهغه حواس او عواطف هم اغېزمن وي. دغه اغېز لۀ منظمو غږونو رامنځته کېږي. غږونه لۀ مانا او مادي وجوده ښه مومي.
نو په زړه خبره کېناستل: د خبرې غږيز (معنوي او مادي )تړښت دي چې په زړۀ اغېزمن دي او د هغه غږونه لۀ ځانه سره په ترانه کښې راګډوي او ورسره غبرګېږي.نو وزن د غږونو منظم تکرار، ترکيب او مادي او معنوي ارزښت دے چې اغېزمن دے. غږونه په کلمو او حرکاتو کښې ښه مومي. د ناظمانو او شاعرانو خبرې ځکه اورېدونکي لري چې په خبرو کښې يې مادي او معنوي ارزښت،آهنګين تړښت او اغېز شته .

آهنګ په نثر کښې هم شته خو په نظم کښې هم وزن او هم آهنګ شته، تر نثره د نظم اغېز ځکه هم زيات دے. وزن د کلمو ترمنځ عاطفي تړاو دے، عاطفه اغېزمن توکي دي چې د زړۀ پر حرکاتو اغېزمن دي، .

((عاطفه هغه داخلي قوه ده چې په نفس کښې تاثير لري او نفسونه متاثرکوي مګر دا هم بايد ووايو چې ټول هغه شيان چې په نفس اثر کوي حقيقي ادب يې نۀ شو بللے، ځکه چې ځينې شاعران او خطيبان چې عمومي اميال ورمعلوم دي، د عوامو په شعور لوبې کوي او دَ ځينو کلماتو په استعمال لکه :وطنيت، مليت، قومي لوړتيا... د دوي احساسات راوپښوي او متأثر کوي يې مګر دا تأثر د آنيق تضاداتو تابع وي .نو چې هغه اقتضاآت بل راز شي . د دوي په وينا بيا هيڅ قيمت نۀ لري او في الحال لۀ اعتباره لوېږي، دغه راز عواطف چې يو ټينګ، حقيقي اساس نۀ لري . د بليغ ادب مميزه نۀ شي کېداي،نو په عواطفو کښې څو څيزونه ضرور دي چې دلته پرې بحث کوو .

د عواطفو هدف : د عاطفې هدف دا دي چې عاطفه يو حقيقي اساس ولري او د شاعر د زړۀ غږ ديکه په يوه شعر کښې داسې نه وينو سارۀ تشبېهات، پيکه توصيفونه، تکلفي مبالغې څۀ تاثير نۀ لري او ذات ورځينې نفرت کوي، بليغ او او عالي ادب لکه چې ځينې کسان ګومان کوي په وهم او کذب نۀ دے بنا بلکې د عواطفو په هدف مبني دے . کۀ تاسو يو غزل راواخلئ چې شاعر په کښې د زړۀ په شعور د جمال لوړو مدارجو ته رسېدلي وي او عاطفي صداقت په کښې وي او لۀ يوۀ بل غزل سره يې مقايسه کړئ چې په تکلف او تصنع جوړ شوي وي او لۀ مبالغو نه ډک وي .

رشتياني عواطف په کښې نۀ وي او محض لفاظي وي، درته معلومه به شي چې د تاثير په لحاظ د زمکې او اسمان قدر فرق لري .

”د ځينو عروضي شاعرانو ځيني اشعار چې دَ ادبي صنعتونو، تشبيهاتو او استعارو زور په کښې ليدۀ شي او لۀ مبالغو نه ډک وي . هغو ملي سندرو قدر ته خوند او تاثير نۀ لري چې بې علمه شاعرانو جوړې کړې او ډېرې ساده وي ځکه چې په دې سندرو کښې يوه صادقه مينه يو رښتياني جوش او عواطف موجود وي چې په زړونو اثر کوي.“13

پښتانۀ فطرتاً شاعران دي، په ختهٔ کښې يې وزن نغښتے دے. دوي چې هره خبره کوي، وزن لري. هغه خبرې چې وزن او آهنګ ولري، هغه په زړۀ اغېز کوي. تر ساده خبرو، هغه خبرې چې وزن ولري، حواس راپاروي، او ډېر ژر زړۀ او حافظې ته لار پيد اکوي. کۀ ووايو چې :
”دا دنيا پر احمقانو ودانه ده.“ دا خبره به زموږ حواس ډېر ژر ونۀ پاروي، خو کۀ همدا جمله منظومه وکړو،نو په حواسو به اغېز وښندي.

دا دنيا په احمقانو ده ودانه

دوزن او آهنګ په واسطه ژبه لۀ عادي حالته اوړي، په ژبه کښې د لفظونو ترمنځ غږيز منظم او منسجم تکرار پر مخامخ لوري يو اغېز پرېباسي، او هغه درنګ او خوند په ټال زنګوي، دلته ژبه شاعرانه کېږي او لفظونه په مخامخ لوري يو جاوديي اغېز ښندي، دغه اغېز دمخامخ لوري په حواسو کښې حرکت پيداکوي، دا حرکت وينا ډېر ژر ذهن ته سپاري او په زړۀ خوږه لګي، د زړۀ لۀ حرکاتو سره يې حرکت برابر خېژي. هغه چې وايو

خبره دې زما په زړهٔ وکړه یا ستا خبرې مې د زړهٔ رګونه وترنګول، دا یو پټ شور دے چې د دواړو لوریو ترمنځه حرکاتو کښې محسوسېږي. زهٔ هره ورځ لهٔ یوه دکانداره شیدې اخلم، یوه ورځ ورته وایم :یو کیلو شیدې راکړه.بله ورځ ورته وایم:شیدې یو کیلو راکړه.بله ورځ بیا وایم:راکړه یو کیلو شیدې په بله ورځ بیا دا جمله خولې ته راځي: سپینې شیدې راکړه یو کیلو .لومړۍ جمله یوه عادي جمله ده چې دګرامر په اساس ویل شوې ده، ډېره مصنوعي او بې اغېزې ده. دویمه په دکاندار یو څهٔ اغېز ښندي، تاکید هم په شیدوکېږي، آهنګ یې داسې برابرېږي چې خج په شیدو لوېږي او شیدې هم دتاکید یاخج لهٔ مخې په یوه څپه کښې ادا کېږي. په درېیمه جمله کښې فشار یا خج بیا په وروستۍ کلمه (شیدې) راځي، دلته هم د دکاندار پام را اوړي او اغېز پرې ښندي، په څلورمه جمله کښې بیا خج یا تاکید په (سپینې) دے، دلته دغه ستاینوم لا په مخامخ لوري یا دکاندار اغېز ښندي او دا جمله شاعرانه رنګ پیدا کوي.

په وینا کښې دغه اغېز د وزن او اهنګ لهٔ مخې پیدا کېږي. ارزښت یې هم دا دے چې یوې خبرې ته دخلقو پام را اړول، فکر،احساس او عاطفه لېږدول دي او ترې خوند اخستل دي. په دې سربېره کله چې مونږ ته یو ماشوم خبرې کوي، په خبرو یې دژبې،لاسونو او دبدن دنورو غړو په منظم تکرار پوهېږو. دغه حرکت مونږ تر اغېزلاندې راولي، دا حرکت هم وزن او آهنګ لري. بل دمرغانو لهٔ غږه هم چې کله خوند اخلو، نو دهغوي په غږ کښې همدا آهنګ اووزن دے چې زمونږ پام ځانته رااړوي او حواس مو اغېزمنوي.وزن و آهنګ د تخیل لپاره وسیلې دي. دتصویر د وړاندې کولو لپاره یو لفظي اوډون دي چې مخامخ لورے دژوند په تجربو کښې

ګډوي.کۀ موږ ووايو چې ژوند ډېر لنډ تنګ او د محبت لپاره هم کم دے، نو دې ته حیران یم چې دا خلق نفرت ته څنګه وزګارېږي؟ دا یوه نصیحتي او لۀ پنده ډکه خبره ده، خو کۀ هم داخبره په وزن او آهنګ برابره وکړو، نو لۀ معنوي ارزښت سره سره یو بل ارزښت هم مومي چې هغه د وزن او آهنګ لۀ لارې دژوند په خونداو رنګ کښې دمخامخ لوري ګډول او اغېزمنول دي، تر نثري جملې مو منظومه جمله ډېره زر په زړۀ کښېني، لیک کېږي او لۀ حافظې مو نۀ وځي. دغه اغېز د وزن او آهنګ دي:

دا ژوند خو زموږ کم د محبت لپاره هم دي
حیران یم چې نفرت ته وزګارېږي خلق څنګه؟

د آهنګ ارزښت په دې کښې دي چې غږونه داسې سره منظموي او تال او لے یې برابر وي چې دلوستونکي دزړۀ تارونه ترنګوي او خبره ډېره ژر د زړۀ تل ته لوېږي. دلته خبره محسوسېږي او د زړۀ په غوږو اورېدل کېږي. آهنګ دزیروبمۍ په تال، لے او رنګ کښې کلمي داسې تصویري کوي چې کله ناکله حواس متضاد حالت نیسي، دغه حالت ته حِس آمېزي یاتصویر کښنه کوي، مثلاً: خبره د ژبې یا ویلوپه حس پورې اړه لري، ظرف یې ژبه یا خُلۀ ده، خو وایو خبرې په سترګو کوي.

په سترګو خبرې کول یوۀ محاوره او متضاد حالت دے، دغه حالات ژبه لۀ عادي بیانه اړوي او حسي کوي یې. دغه حالات ته حِس آمېزي یا تصویر کښنه وایي.

ماته په سترګو کښې حال وایه
لارې کوځې لۀ غمازانو ډکې دینه

کۀ کله مونږ هم یو متن کۀ منظوم وي کۀ منثور دیو چا لۀ خولې اورو، هغه وخت راباندې ښه اغېز ښندلي شي او په مانا یې هم ژر پوهېدلای شو چې آهنګ یې برابر وي، لوستونکي هره کلمه او هر غږ په خپل ځاے کښې داسې ادا کړي چې سُراوولے یې خراب نۀ شي. بل لفظونه یا کلمې چې لۀ غږونو ترتیب شوي، هر غږ ځانته یو ځانګړي آهنګ لري، کۀ لفظ سم ادا نۀ شي، نو مخامخ لوري نۀ شي اغېزمنېدلای. هغه چې وایي کنز به هر څوک وایي خو خُلۀ دملا فاروق غواړي، د دې خبرې دلیل دا دے چې ملافاروق کنز په ښه غږ،شدومد او آهنګ کښې وایي. غږ د هر توري لۀ غږ سره برابر وي او بیا یې وایي. زموږ ځینې شاعران شعر سم او روغ لیکي خو چې کله یې وایي، نو مخامخ لوري نه شي اغېزمنولاي، دلیل داد ے چې دوي په ویلو کښې دغږ آهنګ نۀ برابروي.دلوستونکي حوصله هم تنګېږي. د شعر موسیقي هم د اهنګ په واسطه برابرېږي،یو بهرني کس ممکن په پښتو پوهنه شي، خو دلفظونو له آهنګه خوند اخلي، دغه خوند د آهنګ لۀ زیروبمې اوموسیقۍ رامنځته شوي دي. ډېر ځله داسې کېږي چې لفظ نه وي، خو د لفظ آهنګ وي، د لفظ آهنګ دلوستونکي حواس راپاروي او خوند ترې اخلي.نو آهنګ او وزن نه یوازې دا چې کلام ته موسیقي، خوند او رنګ ورکوي، بلکې دمانا او فکر په رسولو کښې هم عمده دنده ترسره کوي.

آهنګ دوزن د برابرولو لپاره په یوۀ بیت یا مصرع کښې داسې غږونه ورزیاتوي چې مانا نۀ لري، خو دکلام موسیقي او وزن پرې بشپړېږي، دغه ډول بېلګې موږ دپښتو ګړني ادب (محاوراتي ادب) په بېلابېلو ژانرونو کښې موندلاي شو. کله دپښتو لنډیو په وروستۍ برخه کښې د موسیقیت او آهنګ برابرولو لپاره دځینو غږونو راوړل.

کـــــۀ تـــــۀ رښــــتيا پــــه مــــا مئـــــين يـــــې
راشــــه زمــــونږ پــــه ډېــــران ... وکــــه مئينــــه

دلته دا د مئينه لفظ يوازې او يوازې د کلام د وزن او آهنګ د برابرولو په خاطر را وړل شوي دي. کۀ لرې شي، معنوي جنجال نۀ پېښوي خو د آهنګ سُر، تال او لے خرابوي.يا دا سروکي چې غړونه په کښې د کلام د موسيقي يا آهنګ برابرولو په موخه تکرار شوي دي.

پــه شــيدو يــې لويــه وينــه يــاره نــا
ويــاره نــا نــا ســعدولا جانــه

دلته اوس نا نانانا غړونو راوړل کوم مفهوم نۀ لري، يوازې او يوازې د نظم د موسيقۍ او آهنګ برابرولو په موخه تکرارېږي. زمونږ مذهبي مشران هڅه کوي چې د کار او تاکيد خبره کۀ منثوره هم وي، په ترنم کښې يې وړاندې کړي، په ترنم سره د خبروو وړاندې کول، هماغه آهنګ دي چې اورېدونکي تر خپل اغېز لاندې راولي.
وزن ذهن د مقصودي معنې اخستنې ته اماده کوي. د تفصيل او تکرار مخه نيسي.

پايله (نتيجه):

په دې ليکنه کښې دا څرګنده شوه چې وزن او آهنګ دواړه سره توپير لري، د نظم بنسټيز توکي دي. د پښتو نظم جوړښت څپېزخجيز دي، د څپو جوړښت وزن برابروي او د څپو ترمنځ غږيز تړښت آهنګ د لحن او خج په اساس رامنځته کوي.
مونږ نۀ شو کولاې چې وزن يوازې او يوازې د څپو د شمېر په اساس رامنځته کړو، بلکې د څپو تړښت رکن او د رکن تړښت مصرع رامنځته کوي چې د دوي ترمنځ بيا تړښت بيا آهنګ رامنځته کوي.

خج ببلابېل بحرونه رامنځته کوي. د هر بحر آهنګ او لحن د خج په واسطه ټاکل کېږي.
وزن د غږونو منظم تکرار، ترکیب ما دي او معنوي ارزښت دے چې اغېزمن دي. غږونه په کلمو او حرکاتو کښې بڼه مومي،
وزن د نظم ببلا بېل فورمونه ټاکي، دغه فورمونه د مصرعو د شمېر، بحرونو، او آهنګ لۀ مخې کېږي. د وزن یوه دنده او ارزښت دا دے چې ژبه لۀ عادي حالته اړوي، لفظونو ته یو داسې خوند او رنګ ورکوي چې په لوستونکي اغېزمن دي، د هغۀ حواس او تخیل راو پاروي، نو کله چې خبره لۀ عادي حالته ناعادي حالت ته ووته، ژبه شاعرانه کېږي. یو خاص وزن او آهنګ مومي.
وزن په بیت کښې د لفظونو د شمېر په بنسټ یوه مصرع لۀ بلې سره تړي خو آهنګ بیا په مصرعو کښې د لفظونو ترمنځ یوه لۀ بله سره د غږونو منظم او منسجم تکرار دے چې هم غږي یې موسیقي رامنځ ته کوي. د وزن لپاره آهنګ هم یو ضروري توکي دي.
آهنګ په نظم کښې د لفظونو ترمنځ یو غږیز امتزاج یا ګډ منظم ترکیب دي چې په خج د نظم وزن او موسیقي برابر وي.

# اخځليکونه

1. زاهدمشوانی، عبدالقيوم، پښتو پښتو سيند، دانش خپرندويې اداري تخنيکي څانګه، دانش چاپخونه، پېښور،۱۳۸۴لمريز، ۵۷مخ
2. پښتو پښتو سيند، ۱۰۵مخ
3. ظفرکاکاخېل، بهادر شاه، ظفر اللغات، يونيورستي بک ايجنسي، پېښور،۲۰۰۱، ۴۳مخ
4. ظفر اللغات، ۱۳مخ
5. قلندر مومند، درياب، (دَ پښتو لُغت) ټېکسټ بک بورډ، خېبر پښتونخوا، ۱۹۹۴، ۱۰۰مخ
6. زيار، مجاور احمد.، پښتوپښويه، کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي، د لوړو زده وزارت چاپخونه،کابل، ۱۳۶۲لمريز، ۱۷مخ
7. رشاد، پوهاند عبدالشکور، د پښتو نظم عروضي سيستم، علامه رشاد اکاډمي، ملالی مطبعه، کندهار، ۱۳۹۵لمريز، ۳۱مخ
8. د پښتو نظم عروضي سيستم، ۳۲مخ
9. د پښتو نظم عروضي سيستم، ۳۷مخ
10. زيار، مجاور احمد، پښتوپښويه،۱۶مخ
11. شينواري، ابوالمراد امير حمزه، د غزل په اننګو کښې، د محمد زرين انځور سريزه او زيار، د ليکوالو ټولنه، دولتي چاپخونه، کابل، ۱۳۶۵لمريز، ۲۲مخ
12. درويش دراني، کر د ګلو، بلوچستان، کويټه، ۲۰۱۴م، ۳۰مخ
13. ازمون، لعل پاچا، منظوم انځورونه، دختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، دانش چاپخونه، پېښور، ۱۳۸۷لمريز، ۷۶مخ